❖❖❖

# د ایران-اسرائیل شخړه او د ځواک کارونې حقوقي حیثیت

دکتور محمد جاوید فدائي*

***لنډیز***

*د ایران-اسرائیل شخړه د نړیوالو اړیکو او بین‌المللي عمومي حقوقو په ساحه کې یوه ډېره پېچلې او حساسه موضوع ده. د دې شخړې اصلي محور د دواړو دولتونو ترمنځ د ځواک‌کارونې حقوقي وضعیت دی، چې باید د ملگرو ملتونو د منشور له مخې په دقیقه توگه و ارزول شي. په ځانگړې ډول، د ځواک‌کارونې منع کول (د منشور ۲(۴) ماده) او د ځاني‌دفاع حق (د منشور ۵۱ ماده) د دې څېړنې اساسي بحثونه دي. دغه څېړنه د ایران او اسرائیل د پوځي عملیاتو مشروعیت او حقوقي حدود څېړي او د دوی کړنې د نړیوالو حقوقي معیارونو پر بنسټ ارزوي. د څېړنې اصلي تمرکز د ځواک د مشروع کارونې شرایط، د قانوني ځاني‌دفاع معیارونه او د روانې شخړې حقوقي پایلې د بین‌المللي حقوقو له نظره څېړل دي. د څېړنې اساسي ستونزه د ایران او اسرائیل ځواک‌کارونه او پوځي کړنې د ملگرو ملتونو د منشور او نړیوالو حقوقي اصولو له مخې تحلیل او قانوني ارزول کېږي. د څېړنې میتودولوژي تحلیلي او انتقادي ده، چې د نړیوالو حقوقي اسنادو، قضیو، اکاډمیکو کتابونو او وروستیو څېړنو پر بنسټ ولاړه ده. د څېړنې موندنې د معاصرو دولتونو ترمنځ د شخړو د حقوقي اصولو د پلیتوب پر وړاندې شته ستونزې څرگندوي او د ایران-اسرائیل شخړې د قانوني حل لپاره عملي لارې چارې وړاندې کوي. همدارنگه، دغه تحلیل د دولتونو د خپلواکۍ، امنیتي اندېښنو او د بین‌المللي حقوقي مکلفیتونو ترمنځ پېچلې اړیکې څېړي او د نیوریالیزم پر امنیتي تعاملاتو او د بریدگر ریالیزم پر سیاسي تگلارو اغېزې په گوته کوي.*

***کلیدي ټکي:*** *ایران، اسرائیل، شخړه، ځواک کارونه، ملگرو ملتونو منشور، وسله‌وال برید، ځاني دفاع.*

---

* لیکوال، ژباړن او څېړونکی چې په بېلابېلو علمي برخو کې پراخ تخصص لري؛ د فقه او قانون په برخه کې د لیسانس، په نړیوالو حقوقو کې د ماسټرۍ او په نړیوالو اړیکو کې د دوکتورا تر کچې لوړې زده‌کړې لري.

**سريزه**

د ايران-اسرائيل شخړه د معاصر منځني ختيځ په سياست کې يوه له تر ټولو پېچلو، دوامدارو او ژورو رقابتونو څخه ده، چې د ستراتيژيکو اړتياوو، ايډيولوژيکو اختلافاتو، او د سيمه‌ييز نظم د متضادو ليدونو پر بنسټ ولاړه ده. دا شخړه نه يوازې د دواړو دولتونو ترمنځ د سياسي او نظامي تقابل يوه بېلگه ده؛ بلکې د نړيوالو حقوقو، نړيوالو اړيکو، او د امنيتي تيوريو د پلېتوب لپاره يوه مهمه قضيه ده، چې د حقوقي اصولو، ستراتيژيکو تگلارو او نظرياتي محرکاتو ترمنځ متقابل تعامل ته اړتيا لري. که څه هم د ايران او اسرائيل ترمنځ مستقيمې جگړې محدودې دي؛ خو د دوی دښمني د نيابتي جگړو، سايبري عملياتو، هدفي وژنو، استخباراتي بريدونو او لفظي شخړو له لارې پېچلې شوې ده. دا حالت نه يوازې د منځني ختيځ امنيتي جوړښت له بې‌ثباتۍ سره مخ کړی؛ بلکې د بين‌المللي حقوقو پلېتوب، د ملگرو ملتونو د منشور تفسير او د نړيوال نظم د مشروعيت لپاره يې هم جدي ننگونې رامنځته کړې دي.

د دې شخړې حقوقي محور د ملگرو ملتونو منشور دی، چې د نړيوالو حقوقو بنسټيز چوکاټ جوړوي. د منشور ۲(۴) ماده د ځواک کارونې عمومي بنديز وضع کوي، په‌داسې حال کې چې ۵۱ ماده د وسله‌وال بريد په صورت کې د مشروع ځاني‌دفاع حق پېژني (Fedayee 2024). سره له دې چې دا مواد څرگند دي؛ خو د ترهگرۍ، سايبري جگړو، غير دولتي وسله‌والو ډلو او نيابتي جگړو د ظهور له امله د دوی تفسير له حقوقي پېچلتياوو سره مخ شوی دی. د ايران-اسرائيل شخړه، چې د نيابتي ډلو، پټو عملياتو او نامتقابلو تکتيکونو پر بنسټ ولاړه ده، د همدغه حقوقي ابهامونو يوه څرگنده بېلگه گڼل کېږي. دا وضعيت د منشور د تطبيق وړتيا، د نړيوالو محاکمو صلاحيت او د نړيوالو اصولو د پلېتوب لپاره جدي پوښتنې را ولاړې کړې دي (Bussolati 2015).

د ايران ستراتيژي د اسلامي انقلاب له ايډيولوژۍ، د سيمه‌ييزو گټو پراختيا او د اسرائيل له خوا د شته گواښونو له درک څخه سرچينه اخلي. ايران له ۱۹۷۹ کال راهيسې ځان د لوېديځ امپرياليزم او صهيونيزم پر ضد د مقاومت مخکښ گڼي. دا دريځ د حزب‌الله، حوثيانو

او نورو شیعه ډلو له لارې د نیابتي نفوذ پراختیا ته زمینه برابره کړې ده، چې ایران هڅوي ترڅو له مستقیمې جګړې پرته خپل ستراتیژیک اهداف تعقیب کړي. همدارنګه، ایران د بالستیک توغندیو، ډرونونو، سایبري وړتیاوو او اطلاعاتي جګړو پر پراختیا باندې ځانګړی تمرکز کړی، چې د سیمه‌ییزو ګواښونو پېژندنه یې لا پېچلې کړې ده (Makousis 2025).

اسرائیل بیا د ایران اټومي پروګرام او سیمه‌ییز نفوذ د خپل ملي امنیت لپاره جدي ګواښ ګڼي. د "بیګېن ډاکټرین"[۱] له مخې اسرائیل هېڅ دښمن ته اجازه نه ورکوي چې اټومي وسلې ترلاسه کړي. د عراق پر اټومي تأسیساتو د ۱۹۸۱ کال برید، د سوریې پر الکبیار تأسیساتو د ۲۰۰۷ کال هوایي برید او د ایران د اټومي ساینس‌پوهانو هدفي وژنې د همدې ستراتیژۍ څرګندې بېلګې دي (Bar 2020). اسرائیل د ستراتیژیک ابهام، سایبري جګړې او سیمه‌ییزو اتحادونو له لارې هڅه کوي چې د ایران نفوذ محدود کړي او د قدرت توازن په خپله ګټه وساتي. د ابراهیم تړونونه،[۲] چې د اسرائیل او د متحده عربي اماراتو، بحرین او مراکش دولتونو ترمنځ د اړیکو د عادي کولو پر بنسټ رامنځته شول، د اسرائیل له لوري د سیمه‌ییزو همکاریو د پراختیا ستراتیژي بلل کېږي، ترڅو د ایراني نفوذ د محدودیت لپاره وکارول شي (Hendel 2012).

د نړیوالو اړیکو نظریات، په ځانګړي ډول نیوریالیزم، بریدګر ریالیزم او کنسټرکټویزم، د دې شخړې د تحلیل لپاره مهم فکري چوکاټونه وړاندې کوي. نیوریالیزم د نړیوال نظم انارشیک طبیعت، د بقا لپاره د ځواک د سیالۍ اړتیا او د امنیتي معضلې منطق توضیح کوي.

---

(۱) د بیګېن ډاکټراین یا تګلاره (Begin Doctrine) د اسرائیل یوه ستراتیژیکه پالیسي ده چې د دښمنو دولتونو له‌خوا د اټومي وسلو د پراختیا په صورت کې د مخکیني پوځي اقدام اجازه ورکوي. دا ډاکټراین په ۱۹۸۱ کال کې د عراق د اوسیراک اټومي رېکټر تر بمبارۍ وروسته د صدراعظم مناخم بېګین لخوا اعلان شوه. چې هدف یې د اسرائیلي امنیت تضمین او د احتمالي ګواښونو مخنیوی دی.

(۲) د ابراهیم تړونونه، چې په ۲۰۲۰ کال کې د امریکا په منځګړیتوب لاسلیک شول، د اسرائیل او څو عربي دولتونو -متحده عربي امارات، بحرین، مراکش او سوډان- ترمنځ د اړیکو عادي کولو ته لاره هواره کړه. دغه موافقې د بین‌الادیاني تفاهم، سیمه‌ییز ثبات او ستراتیژیکو همکاریو د پیاوړتیا لپاره مهم ګام بلل کېږي او د منځني ختیځ په جیوپولیتیکي جوړښت کې یې د پام وړ بدلونونه رامنځته کړي دي.

د ایران نیابتي جګړې، د اسرائیل د پرمختللو دفاعي سیستمونو پلي کول او د دواړو دولتونو ترمنځ د دوامدارې بې‌باورۍ فضا د نیوریالیزم د بنسټیزو فرضیو یو څرګند او مستند تصدیق وړاندې کوي (Ahmadzada 2025). بریدګر ریالیزم بیا دا استدلال وړاندې کوي چې دولتونه یوازې د بقا د تضمین لپاره نه؛ بلکې د سیمه‌ییز او ستراتیژیک تسلط د ترلاسي لپاره هم هڅې کوي. د ایران انقلابي دریځ، د اسلامي نړۍ د مشرتابه دعوه او د اسرائیل د پراخو امنیتي تګلارو عملي کول د دې تیورۍ عملي بڼه وړاندې کوي. کنسټرکټیویزم د هویت، ارزښتي ژمنتیاوو او فکري جوړښتونو پر اغېز ټینګار کوي، چې د ایران او اسرائیل د سیاستونو د ژور تحلیل لپاره مهم تفسیر وړاندې کوي. د ایران دښمني د انقلابي دولت د ځان پېژندنې یوه برخه ده، په‌داسې حال کې چې د اسرائیل امنیتي دریځ د هولوکاسټ تراما،[1] شته ګواښونو او د یهودي دولت د بقا له اړتیا سره مستقیم تړاو لري (Whyte 2011).

دا مقاله هڅه کوي چې د حقوقي، ستراتیژیکو او نظریاتي لیدونو ترمنځ همغږي رامنځته کړي، ترڅو د ایران-اسرائیل شخړې یو جامع تحلیل وړاندې کړي. دا تحلیل نه یوازې د ملګرو ملتونو د منشور حقوقي اصول، د دواړو دولتونو پوځي تګلارې او د نظریاتي محرکاتو ارزونه کوي؛ بلکې د شخړې د حل لپاره د حقوقي وضاحت، ستراتیژیکو محدودیتونو او ارزښتي تفاهم اړتیا هم روښانه کوي. لنډه دا چې د ایران–اسرائیل شخړه یوازې دوه‌اړخیز تقابل نه دی؛ بلکې یوه نړیواله قضیه ده، چې د نړیوال نظم، قانونیت او سیمه‌ییز ثبات لپاره ژورې پایلې لري. د دې شخړې د حل لپاره باید د قانون، تفاهم او سیاسي تدبیر له لارې همغږې هڅې وشي، ترڅو د تاوتریخوالي کمښت، د شخړو مدیریت او د سولې د ټینګښت بنسټونه پیاوړي شي.

د څېړنې اساسي ستونزه دا ده چې څرنګه د ایران او اسرائیل د ځواک کارونه او نظامي

---

([1]) هولوکاسټ تراما هغه ژوره رواني، احساساتي او ټولنیزه اغېزه ده چې د نازي نسل‌وژنې له امله د یهودانو په فردي او ټولنیز ژوند کې پاتې شوې. دا تراما نه یوازې د نازي واکمنۍ پرمهال یهودي ژوندي نسل باندې اغېزه کړې؛ بلکې راتلونکو نسلونو ته هم لېږدول شوې ده، چې د اسرائیل امنیتي سیاستونو، یهودي هویت او ټولنیزو باورونو په جوړښت کې یې څرګند انعکاس موندلی.

کړنې د ملګرو ملتونو د منشور او د نړیوالو حقوقي اصولو له مخې تحلیل او قانوني ارزول کیږي. د ځواک د کارونې ممنوعیت او د ځانيدفاع حق ترمنځ فاصلې او تعامل په ځانګړې ډول د غیر عنعنوي جګړو له وجې را منځته شوې حقوقي خلاوې، د دې موضوع په رڼا کې د پام وړ دي. سربېره پردې، د نړیوالو اړیکو نظریې لکه نیوریالیزم او بریدګر ریالیزم د امنیتي اړتیاوو او سیاسي ستراتیژیو له اړخه د دې شخړې په تحلیل کې مهمې څېړنیزې کټګورۍ دي، چې د حقوقي اصولو د پلیتوب په برخه کې د محدودیتونو او ننګونو څرنګوالی ښیي.

دا څېړنه د تحلیلي او انتقادي میتودونو پر بنسټ ولاړه ده، چې د اصلي نړیوالو حقوقي اسنادو، لکه د ملګرو ملتونو منشور، د امنیت شورا پرېکړهلیکونو، نړیوالو عدلي پرېکړو او د نړیوالو حقوقو په برخه کې د معتبرو اکاډمیکو څېړنو تحلیل شامل دی. سربېره پردې، د نړیوالو اړیکو په ځانګه کې خپاره شوي نظریات، تحلیلي مطالعات او علمي مقالې د دې موضوع د ژور او مفصل درک لپاره کارول شوي دي. څېړنه د ایران-اسرائیل د شخړې شالید، د ملګرو ملتونو منشور او د ځواک د کارونې حقوقي اړخونه، د منځنې ختیځ د امنیتي توازن ارزونه، د دواړو دولتونو پوځي ستراتیژۍ او نظریاتي لیدلوري -نیوریالیزم او بریدګر ریالیزم- څېړي، چې هره برخه یې د شخړې اړوند ابعاد په تفصیلي، انتقادي او تحلیلي ډول ارزوي.

د څېړنې موندنې څرګندوي چې د ایران-اسرائیل شخړه د سیمهییزو سیاسي اختلافاتو ترڅنګ د نړیوالو حقوقي چوکاټونو، امنیتي توازن او د دواړو دولتونو د ستراتیژیکو موخو د پېچلي تعامل پایله ده. موندنې ښیي چې د ملګرو ملتونو منشور او د ځواک کارونې قانوني محدودیتونه د دواړو خواوو د کړنو د تحلیل لپاره مهم حقوقي چوکاټ برابروي؛ خو سیمهییز امنیتي او پوځي واقعیتونه د دغو اصولو عملي پلي کول محدودوي. همدارنګه، د نیوریالیزم او بریدګر ریالیزم نظریاتي لیدلوري ښیي چې دواړه دولتونه د خپلو ملي ګټو او امنیتي اهدافو پر بنسټ عمل کوي، پهداسې حال کې چې هویت او ارزښتي ژمنتیاوې د هغوی پر ستراتیژیکو پرېکړو ژور اغېز لري.

### ۱. د ایران-اسرائیل د شخړې شالید

د ایران او اسرائیل ترمنځ چلند له تاریخي پلوه د یو ډېر مهم او پېچلي تحول شاهد پاتې

شوی دی. د دواړو حریفانو اړیکې چې نن ورځ د سختې دښمنۍ بڼه لري، یو وخت د نږدې همکارۍ پر اساس ولاړې وې. له ۱۹۴۸م کال را پدیخوا، کله چې اسرائیل د یو خپلواک دولت په توګه اعلان شو، ایران له نورو ډېرو اسلامي او عربي دولتونو سره توپیر درلود. که څه هم زیات شمېر عرب دولتونو د اسرائیل د مشروعیت نه منلو سیاست غوره کړ؛ خو ایران چې د محمد رضا شاه پهلوي تر مشرۍ لاندې یو سیکولر او لوېدیځپال نظام درلود، له اسرائیل سره پټې؛ خو مهمې اړیکې وساتلې (Furlan 2022).

په دې دوره کې د دواړو دولتونو اړیکې پر متقابلو ستراتیژیکو ګټو ولاړې وې. ایران، چې د شوروي اتحاد له نفوذ او د عربي ملتپالنې له پرمختګه وېره درلوده، اسرائیل یو ارزښتناک سیمه‌ییز متحد ګاڼه. بالعکس اسرائیل، چې له عربي نړۍ سره کلک مخالفتونه درلودل، هڅه کوله له غیر عربي؛ خو اسلامي دولتونو سره اړیکې جوړې کړي، چې ایران یې تر ټولو مهم غوراوی و. په همدې اساس، اوسني حریفان چې د شلمې پېړۍ په منځنۍ دوره کې ستراتیژیک متحدان ول، د خپلمنځي استخباراتي، اقتصادي او پوځي همکارۍ پراخه اړیکې درلودې (Singh 2025). له یوې خوا، ایران اسرائیل ته د نفتو د صادراتو لړۍ پرمخ وړله او له بلې خوا، اسرائیل ایران ته پوځي تخنیکي ملاتړ او استخباراتي معلومات برابرول. د دغو اړیکو تر شا هغه مفکوره ولاړه وه چې دواړه دولتونه د شاوخوا دښمنو نظامونو ترمنځ باید یوه ستراتیژیکه همکاري ولري، ترڅو خپلې ګډې ګټې خوندي کړي (Raban 2024).

د ایران-اسرائیل نژدې دوستۍ تر ۱۹۷۹م کاله پورې دوام وکړ. د اسلامي انقلاب له بریا سره سم په ایران کې سیاسي نظام بشپړ بدل شو. د آیت‌الله خمیني تر مشرۍ لاندې نوی اسلامي نظام رامنځته شو، چې د لوېدیځ او په ځانګړي ډول د امریکا او اسرائیل پر وړاندې یې سخت دریځ غوره کړ. د دغه نظام د بهرني سیاست اساسي بنسټ د اسرائیل د نه مشروعیت نظریه وه.لنډه دا چې ایران، اسرائیل یو غاصب، استعماري او د اسلامي امت ګډ دښمن وګاڼه، چې په پایله کې یې دواړه پخواني دوستان په سرسخته حریفانو بدل شول (Rezaei 2019).

ایران چې تر انقلاب وروسته یې ځان د اسلامي نړۍ د رهبر په توګه معرفي کاوه، د فلسطین مسئله یې د خپل سیاست مرکزي شعار وګرځاوه. د «القدس ورځ» د رسمي اعلان له

لارې، د اسرائیل ضد دریځ د دولت له شعار څخه یو ملي سمبول ته واوښت (Roomi 2023). په همدې اساس، ایران د اسرائیل پر ضد د مستقیم تقابل پرځای، د نیابتي جګړو ستراتیژي غوره کړه. د دغه ستراتیژۍ بنسټ د حزب‌الله، حماس، حوثیانو او نورو مقاومت‌پالو ډلو مالي، پوځي او روزنیز ملاتړ و (Akbarzadeh 2019). په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰یمو کلونو کې، لبنان د ایران او اسرائیل ترمنځ د نیابتي جګړې اصلي ډګر شو. حزب‌الله، چې د ایران له خوا جوړ او ملاتړ کېده، په پرله‌پسې توګه د اسرائیل پر پوځي او ملکي اهدافو بریدونه وکړل. دا وضعیت د ۲۰۰۶م کال د لبنان جګړې ته ورسېد، چې پکې د ایران له خوا تمویل شوي حزب‌الله اسرائیلي پوځ ته درانه تلفات واړول. دغه شخړه د دواړو دولتونو ترمنځ د اوږدمهاله تقابل نوی باب پرانیست (Tür 2007).

همدارنګه، د ایران اټومي پروګرام هم د اسرائیل اندېښنې لا ژورې کړې. اسرائیل دا پروګرام د خپل ملي امنیت لپاره جدي ګواښ وګڼه. د دغه ګواښ پر بنسټ، اسرائیل د نړیوالو متحدینو په مرسته هڅه وکړه، ترڅو ایران منزوي کړي. له بلې خوا، ایران خپل اټومي پروګرام د ملي خپلواکۍ، تخنیکي پرمختګ او د ستراتیژیکو ګواښونو د مخنیوي یوازینۍ وسیله وګڼله، چې د سیمه‌ییزو او نړیوالو فشارونو پر وړاندې د مقاومت سمبول هم بلل کېږي. دغه تقابل د دواړو دولتونو ترمنځ د شخړې تاریخي ریښې لا پسې ژورې کړې، چې د متقابلې بې‌اعتمادۍ، امنیتي اندېښنو او ایډیالوژیکو تضادونو دوامداره بڼه یې رامنځته کړې ده (Bahgat 2007).

په ۲۰۲۵ کال کې د ایران او اسرائیل ترمنځ دولس ورځنی تقابل د یوې بې‌سابقې او شدیدې شخړې بڼه غوره کړه، چې د جون له ۱۳مې څخه تر ۲۴مې نېټې پورې وغځېده. دا نښته د اسرائیل له‌خوا د ایران پر مهمو اټومي تأسیساتو -په نتنز، فردو او د تهران شاوخوا سیمو کې- د هوایي بریدونو له امله پیل شوه. ایران د دغه یرغل پر وړاندې له سستۍ پرته غبرګون وښود؛ سلګونه توغندي او ډرونونه یې د اسرائیلي ښارونو او نظامي مرکزونو پر لور وتوغول، چې په ترڅ کې یې د تل‌ابیب، حیفا او نورو مهمو برخو زیربناوې سختې زیانمنې شوې. د یادونې وړ ده چې د نښتې په وروستیو ورځو کې متحده ایالات هم جګړې ته داخل شول او د ایران پر اټومي زېرمو یې بمبارونه ترسره کړل (Chughtai 2025).

په دغه تقابل کې دواړو لوريو ته د پام وړ انساني، اقتصادي او ستراتيژيک زيانونه واوښتل. په ايران کې سلګونه کسان ووژل شول او زرګونه نور ټپيان شول، په داسې حال کې چې اسرائيل هم د تلفاتو شاهد و. دا شخړه، که څه هم په ظاهري بڼه له اوربند سره پای ته ورسېده؛ خو د سيمه‌ييزو مناسباتو، نړيوالو محاسبو او ژورو ستراتيژيکو ارزونو لپاره يې نوی څپرکی پرانيست. سره له دې چې جګړه پای ته رسېدلې؛ خو د بې‌باورۍ، امنيتي انديښنو او احتمالي تقابل فضا لا هم دوام لري. دا پېښه د دواړو دولتونو ترمنځ د اوږدمهال رقابت يوه نوې تاريخي نښه ګرځېدلې، چې د ستراتيژيکو محاسباتو او متقابل تعامل پر بڼه ژور اغېز لري (Chughtai 2025).

لنډه دا چې د ايران او اسرائيل شخړه يوازې يو عادي تقابل نه؛ بلکې د ژور ستراتيژيک، تاريخي او ايډيولوژيک تحول انعکاس دی، چې د سيمې د امنيتي معادلو او نړيوالو تعاملاتو پر مسير ژور اغېز لري. له ستراتيژيکې همکارۍ تر ايډيولوژيکې دښمنۍ، دا بدلون د منځني ختيځ د سياستونو پر نورو اړخونو هم پراخ اغېز کړی دی. د دې ترڅنګ، د ايران اسلامي انقلاب د فلسطين قضيې ته نه يوازې يو نوی سياسي بعد او ارزښت ورکړی؛ بلکې د دغه انقلاب له امله د ايران او اسرائيل ترمنځ اړيکې له احتمالي تفاهم نه اوښتې او په يو دوامدار، ايډيولوژيک او ستراتيژيک رقابت بدلې شوې. له بلې خوا، اسرائيل چې ځان د سيمه‌ييزو ګواښونو په منځ کې محاصره ګڼي، د ايراني نفوذ د پراختيا بهير د خپل ملي امنيت لپاره جدي او ستراتيژيکه ننګونه ګڼي.

**۲. حقوقي چوکاټ: د ملګرو ملتونو منشور او د ځواک کارونه**

د نړيوالو اړيکو په حقوقي جوړښت کې د ځواک‌کارونه يو له هغو حساسو موضوعاتو څخه ده چې نه يوازې د يو دولت د حاکميت او خاورې د مصونيت مسئله ده؛ بلکې د نړيوال نظم د ثبات او قانونيت اصول هم پکې مطرح دي. ۱۹۴۵ کال کې له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته نړيوالې ټولنې هڅه وکړه، چې د پوځي شخړو د مخنيوي لپاره يو جامع حقوقي چوکاټ رامنځته کړي. د همدې موخې لپاره يو نړيوال منشور نافذ شو، چې د سولې د تأمين، د ځواک کارونې د مخنيوي او د شخړو د سوله‌ييز حل لپاره يو حقوقي چوکاټ تعريفوي.

دا حقوقي چوکاټ دولتونه دې ته هڅوي چې خپل اختلافونه د ځواک کارونې او تاوتریخوالي پرځای له خبرواترو، منځګړیتوب یا د قضاوت له لارو حل کړي (Blay 2012).

د ملګرو ملتونو د منشور له مخې د ځواک کارونه یوازې په استثنایي حالاتو کې قانوني ګڼل کېږي. که یو دولت د بهرني وسله‌وال برید سره مخ شي؛ نو د ځاني‌دفاع طبیعي حق لري چې د خپل ځان او خپلو اتباعو دفاع وکړي. د پاملرنې وړ ده چې د ځاني‌دفاع طبیعي حق د اصولو او حدودو تابع دی؛ یعنې هر ډول غبرګون باید له حد پرته نه وي او یوازې تر هغه محدود وي چې شخړه مهار شي یا نړیواله ټولنه مداخله وکړي. بله مشروع لار دا ده چې د نړیوالو د اتفاق له مخې یو دولت یا ائتلاف ته اجازه ورکړل شي، چې د سولې یا امنیت د خوندیتوب لپاره اقدامات وکړي. دا ډول اقدامات هغه مهال صورت نیسي چې سیاسي او اقتصادي فشارونه ناکام شي او وضعیت پوځي مداخلې ته اړتیا ولري (Wood 2013).

سره له دې، د نړیوال نظم طبیعت او معاصرې ننګونې، لکه ترهګري، نادولتي وسله‌والې ډلې، سایبري حملې او بشري ناورینونه، دا اصولي چوکاټ له نویو ننګونو او حقوقي پېچلتیاوو سره مخ کړی دی. دا حالت غوښتنه کوي چې د نړیوالو حقوقو تفاسیر د معاصر وضعیت له تحولاتو سره سم ترسره شي. د ځواک کارونې اصول باید نه یوازې د تېرو تجربو پر بنسټ وڅېړل شي؛ بلکې د راتلونکو احتمالي بحرانونو د مخنیوي لپاره هم واضح او عملي لارښود وړاندې کړي، ترڅو نړیواله ټولنه د قانون د حاکمیت، سولې او عدالت له لارې نړیوال ثبات وساتي.

### ۱,۲. د منشور ۲(۴) ماده: د ځواک د کارونې منع

د ملګرو ملتونو د منشور ۲(۴) ماده له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د نړیوال نظم یو بنسټیز اصل معرفي کوي. دا ماده د ملګرو ملتونو سازمان ټولو غړو دولتونو ته حکم کوي چې په خپلو نړیوالو اړیکو کې باید د ځواک له ګواښ یا کارونې ډډه وکړي، چې د بل دولت د ځمکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکۍ یا د ملګرو ملتونو له موخو سره په ټکر کې وي. دا اصل نه یوازې د بین‌الدُولي تعاملاتو قانوني چوکاټ ټاکي؛ بلکې د نړیوالې سولې او ثبات لپاره یو اخلاقي بنسټ هم ګڼل کېږي (Fedayee 2024).

د ملګرو ملتونو د منشور د (۲) مادې د (۴) بند تعبير پراخه او څوبعدي ساحه لري، چې د ځواک د کارونې د منع اصول نه يوازې د مستقيمو پوځي بريدونو؛ بلکې د غيرسنتي، نيابتي او غيرفزيکي تهديدونو پر وړاندې هم د حقوقي ارزونې اړتيا رامنځته کوي. دا يوازې د ښکاره وسلهوالو بريدونو بنديز نه دی؛ بلکې هر ډول قهرجن فشار، ګواښ، يا مستقيمه مداخله چې د دولت حاکميت ته زيان رسوي، د دغه بند له مخې ممنوع ګڼل کېږي. د معاصرو حقوقپوهانو په اند، د ملګرو ملتونو د منشور د (۲) مادې (۴) بند بايد يوازې تر سنتي پوځي بريدونو محدود نه وي؛ بلکې سايبري بريدونه، هدفي وژنې او فزيکي اغېز لرونکي استخباراتي بريدونه هم تر پوښښ لاندې راولي، ترڅو ورته اقدامات د ځواک کارونې محدوديت درک کړي (Tams 2024).

د يادونې وړ ده چې د ملګرو ملتونو د منشور د (۲) مادې (۴) بند که څه هم د ځواک له کارونې يا ګواښ څخه د منع صراحت لري؛ خو دا بنديز مطلق نه دی د نړيوالو حقوقو په چوکاټ کې استثنايي حالات هم شتون لري. لومړی، د منشور د (۵۱) مادې له مخې، هر دولت د وسلهوال بريد په صورت کې د فردي يا ډلهيزې ځانساتنې حق لري، چې بايد امنيت شورا ته راپور ورکړل شي. دوهم، امنيت شورا د منشور د (۴۲) مادې پر بنسټ، د سولې تهديد يا يرغل په صورت کې د ځواک کارونې اجازه ورکولی شي، چې دا عمل د ټوليز امنيت د نظم برخه ګڼل کېږي. درييم، که يو دولت په خپل قلمرو کې بل دولت ته د ځواک کارونې اجازه ورکړي، لکه د ترهګرو ډلو پر ضد عمليات کول؛ نو دا کار د منشور د (۲) مادې له (۴) بند سرغړونه نه ګڼل کېږي. څلورم، که څه هم د بشري مداخلې يا مسؤليت د ساتنې (R2P) مفکوره[1] لا هم جنجالي ده؛ خو ځينې حقوقپوهان استدلال کوي چې د پراخو بشري ناورينونو د مخنيوي لپاره محدوده ځواک کارونه مشروع ګڼل کېږي. دا ټول استثنايي حالات

---

[1] (Responsibility to Protect-R2P) يا د ساتنې مسؤليت د نړيوالو حقوقو يو اصل دی، چې له مخې يې دولتونه د خپلو وګړو د نسلوژنې، نژادي تصفيې، د جنګي جرمونو او د بشريت ضد جرمونو د مخنيوي مسؤليت لري. که يو دولت په دې کې پاتې راشي، نړيواله ټولنه د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د مداخلې مسؤليت لري.

د منشور د (۲) مادې د (۴) بند د تعبیر ساحه پراخوي او د نړیوالو حقوقو د تحول انعکاس په ګوته کوي (Alqahtani, Nordin and Jalil 2021) .

د دې ترڅنګ، نړیوال حقوقي اصول دا درک کوي چې دولتونه د بهرني وسله‌وال برید پر وړاندې د ځاني‌دفاع طبیعي حق لري؛ خو دا دفاع باید له اړتیا او تناسب پرته و نه غځول شي. بل اړخ یې دا دی که نړیواله سوله له ګواښ سره مخ شي؛ نو د دولتونو ګډ اقدام ته اجازه ورکول کېږي. همدارنګه، د نړیوالو ادارو لکه د امنیت شورا سیاسي بندیزونه وخت ناوخت دولتونه دې ته اړ کوي، ترڅو له یو اړخیز اقدام کار واخلي، چې په پایله کې یې مشروعیت او قانونیت تر پوښتنې لاندې راځي (Anand 2009).

د نړیوالو محاکمو پرېکړو د ځواک کارونې د بندیز قانوني قوت په څرګند ډول پیاوړی کړی دی او د دغو اصولو وضاحت کې یې مهمه ونډه اخیستې ده. د نیکاراګوا پر ضد د متحده ایالاتو قضیه په دې برخه کې یوه بنسټیزه پرېکړه ده، چې غیرمستقیمه ځواک کارونه، لکه د یاغیانو تمویل، وسله ورکول او روزل، د دغه بند ښکاره نقض ګڼل کېږي. دا پرېکړه د دې لپاره مهمه ده چې وښیي د ځواک د کارونې بندیز یوازې په مستقیمو پوځي بریدونو پورې محدود نه دی؛ بلکې هغه کړنې هم را نغاړي چې د بل دولت ثبات او امنیت په غیر مستقیم ډول له منځه وړي (ICJ 1986). په همدې اساس، وروستیو قضیو تائید کړې چې اقتصادي فشارونه، که څه هم جدي، پراخ او زیانمنونکي وي؛ خو د ځواک د کارونې له تعریف سره سمون نه لري او له همدې امله د دغه بند تر پوښښ لاندې نه راځي. دغه پرېکړې نه یوازې د نړیوال قانون د وضاحت او تفسیر لپاره بنسټیز اهمیت لري؛ بلکې د دولتونو ترمنځ د ځواک کارونې محدودیت او د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت لپاره هم یو مهم اساس برابروي (Batinga 2024).

د یادونې وړ ده چې نوي امنیتي ګواښونه؛ لکه ډرون بریدونه، ترهګرې شبکې او غیر فزیکي برید کوونکي تخنیکونه د ځواک کارونې اصل له نویو تفسیرونو سره مخ کړی دی. ډېری حقوق‌پوهان اوس دې پایلې ته رسېدلي چې هر ډول عمل چې له پولو واوړي او دښمنانه نیت ولري، د ځواک کارونې بندیز ننګوي، که څه هم د "وسله‌وال برید" په کټګورۍ

کې نه وي. دغه پراخه مفکوره د دې لپاره رامنځته شوې چې د دولتونو حاکمیت او نړیوال امنیت خوندي کړي او نړیوال حقوق د معاصرو ګواښونو پر وړاندې د پلیتوب وړ او اغېزناک وساتي (Pobjie 2024).

په لنډیز سره ویلی شو چې د ملګرو ملتونو د منشور ۲(۴) ماده د نړیوالو حقوقو یو ثابت او بنسټیز اصل دی چې د دولتونو ترمنځ د سولې، ثبات او متقابل درناوي لپاره یو روښانه حقوقي چوکاټ برابروي. دا ماده د ځواک د کارونې پر وړاندې یو جامع بندیز لګوي او د نړیوالې سولې او امنیت د خوندیتوب لپاره د بنسټیز اصل په توګه پېژندل کېږي. بلخوا، د نړیوال نظم ورځ تر بلې پراخېدونکې پیچلتیاوې، لکه نوي امنیتي ګواښونه، د دولتونو ترمنځ شخړې او د ټکنالوژۍ چټک پرمختګونه، د دې اصل د پلیتوب او تفسیر لپاره نوې ننګونې را ولاړې کړې دي. له همدې امله، اړینه ده چې دا اصل د معاصرو حالاتو، نویو ګواښونو او عصري تخنیکي واقعیتونو په رڼا کې په انعطاف منونکي ډول تفسیر او تطبیق شي، ترڅو خپل حقوقي ارزښت، اغېزمنتیا او د نړیوال نظم د ټینګښت رول وساتي.

### ۲،۲. د منشور ۵۱ ماده: د ځاني‌دفاع حق

د ملګرو ملتونو د منشور ۵۱مه ماده د نړیوالو حقوقو له بنسټیزو او کلیدي اصولو څخه ده چې د دولتونو د حاکمیت، بقا او مشروع دفاع طبیعي حق تضمینوي. دغه ماده په څرګنده توګه بیانوي چې د منشور په چوکاټ کې هېڅ یو اصل د غړو دولتونو فردي یا ګډ دفاعي اقدامات نه محدودوي، که پر دوی وسله‌وال برید ترسره شي. دا اصل دولتونو ته اجازه ورکوي چې د وسله‌وال برید په صورت کې، تر هغه وخته پورې چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا اړین اقدامات نه وي ترسره کړي، د ځاني‌دفاع لپاره په انفرادي یا ګډه توګه اقدام وکړي. له همدې امله، د ځواک هر ډول کارونه یوازې هغه وخت قانوني ګڼل کېږي چې د امنیت شورا له پرېکړه‌لیک سره مل وي او یا د مشروع ځاني‌دفاع په چوکاټ کې ترسره شي. دغه ماده د نړیوالې سولې او امنیت د خوندیتوب لپاره یوه مهمه توازني وسیله ده چې د دولتونو د بقا حق تضمینوي او هم د ځواک د غیر موجه کارونې مخه نیسي (Fedayee 2024).

د ځان ساتنې حق د نړیوالو حقوقو په حقوقي شالید او عرفي بنسټ ولاړ دی، چې د

دولتونو د بقا او حاکمیت د خوندیتوب لپاره پراخ اهمیت لري. د نړیوالو حقوقو په عرفي چوکاټ کې دوه اساسي معیارونه د دفاع د مشروعیت لپاره ضروري بلل شوي دي. لومړی، د ضرورت اصل غوښتنه کوي چې دولت باید دا په قانع کوونکي ډول ثابته کړي چې برید موجود، فوري، شوني او د مخنیوي لپاره یې بله بدیله لاره نه وه. دوهم، د تناسب اصل په دې ټینګار کوي چې دفاعي اقدامات باید یوازې د برید د دفعې لپاره تر لازم حد پورې محدود وي او په هېڅ صورت له اړتیا زیات نه وي (Kretzmer 2013). دغه معیارونه د نړیوال عدالت محکمې (ICJ) له لوري په ۱۹۸۶م کال کې د نیکاراګوا له لوري د امریکا پر وړاندې په تاریخي قضیه کې په څرګند ډول تائید شول. محکمې په دې پرېکړه ټینګار وکړ چې د دفاعي اقداماتو د مشروعیت لپاره باید وسله‌وال برید واضح، مستند او مستقیم وي او د ځان‌ساتنې په نوم اقدامات د مبهمو یا احتمالي ګواښونو پر اساس توجیه کېدی نه شي. دا اصول د دې لپاره وضع شوي چې د ځان‌ساتنې حق د ځواک د غیر موجه او پراخې کارونې لپاره د پلمې په توګه و نه کارول شي او د نړیوالې سولې او امنیت بنسټونه خوندي پاتې شي (Papastavridis 2016).

د ملګرو ملتونو د منشور ۵۱مه ماده نه یوازې د فردي؛ بلکې د ګډې ځاني دفاع اجازه ورکوي، چې له مخې یې یو دولت کولی شي د خپل ځان د دفاع ترڅنګ د یو متحد دولت ملاتړ هم وکړي، که پر هغه وسله‌وال برید ترسره شي. دا اصل د دفاعي اتحادونو لپاره یو مهم حقوقي بنسټ جوړوي، لکه د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو)، چې د غړو دولتونو ترمنځ د ګډې دفاع پر اصل ولاړ دی. د ناټو تړون پنځمه ماده، چې د سازمان د دفاعي جوړښت اساسي ستن ګڼل کېږي، له همدې اصل څخه الهام اخیستی دی. د دغې مادې له مخې، که پر یو غړي وسله‌وال برید وشي، دا برید پر ټولو غړو برید ګڼل کېږي او ټول غړي مکلف ګڼل کېږي چې د اړوند غړي ملاتړ وکړي. دا ګډ مکلفیت نه یوازې د غړو ترمنځ همغږی او یووالي ته وده ورکوي؛ بلکې د نړیوالو تهدیدونو پر وړاندې د ګډ غبرګون لپاره قانوني او اخلاقي مشروعیت هم رامنځته کوي (Fedayee 2024). له همدې امله، ۵۱مه ماده د نړیوال امنیت د خوندیتوب، د دفاعي اتحادونو د مشروعیت او د دولتونو د متقابل ملاتړ د اصولو لپاره یو بنسټیز حقوقي چوکاټ ګڼل کېږي.

همدارنگه، د احتمالي يا "مخکينۍ" دفاع موضوع د نړيوالو حقوقو په ډګر کې يوه له مهمو او تراوسه ناحل شويو مسئلو څخه ده، چې د حقوقپوهانو، دولتونو او نړيوالو سازمانونو ترمنځ يې بېلابېل غبرګونونه راپارولي دي. د ملګرو ملتونو منشور د ۵۱مې مادې لفظي تفسير يوازې هغه حالت مشروع ګڼي چې د دولت لخوا دفاعي اقدام د يو واقعي، روښانه او پېښ شوي وسلهوال بريد په ځواب کې ترسره شي. د دغه تفسير له مخې تر هغه چې وسلهوال بريد ترسره شوی نه وي، د ځواک کارونه مشروع نه ګڼل کېږي؛ خو په مقابل کې ځينې دولتونه، په ځانګړي ډول متحده ايالات او اسرائيل، استدلال کوي که يو ګواښ قريبالوقوع، جدي او له منځه وړونکی نه وي؛ نو بايد دفاع له بريد مخکې هم مشروع وګڼل شي، ترڅو د احتمالي ستر زيان مخنيوی وشي(Elgawari 2025) .

دا دريځ تر ډېره د ۱۸۳۷م کال د کارولاين قضيې پر اساس ولاړ دی، چې د عرفي نړيوالو حقوقو له مخې يې د مخکينۍ دفاع لپاره درې اساسي شرايط وضع کړي دي: دفاع بايد فوري، بديل نهلرونکې او حتمي وي. دا معيار د مخکينۍ دفاع لپاره يو حقوقي چوکاټ وړاندې کوي؛ خو د دې پليتوب او پراخوالی تر ډېره د سياسي تفسير او شرايطو تابع دی. سره له دې چې ځينې حقوقپوهان د کارولاين اصول د نړيوالو عرفي حقوقو يوه مهمه برخه ګڼي، لا هم د دې نظريې په اړه پراخه نړيواله اجماع شتون نه لري. ډېری دولتونه او نړيوال بنسټونه انديښنه لري چې د مخکينۍ دفاع اصولو ته پراخ تفسير ورکول به د ځواک کارونې لپاره د ناسمو پلمو دروازې پرانيزي او دا کار به د منشور د ۲(۴) مادې اساسي فلسفه، چې د نړيوالې سولې او ثبات تأمين دی، له خطر سره مخ کړي (Kearley 1999).

له همدې امله، د احتمالي يا مخکينۍ دفاع موضوع لا هم د نړيوالو حقوقو په چوکاټ کې يوه پېچلې، اختلافي او د روښانه تفسير غوښتونکې موضوع ده. د معاصرې نړۍ امنيتي واقعيتونه، لکه ترهګري، سايبري بريدونه او د نادولتي وسلهوالو ډلو فعاليتونه، دولتونه دې ته هڅوي چې د ځانساتنې په برخه کې له دوديزو اصولو سره انعطاف وښيي. سره له دې، دغه انعطاف بايد د ځواک کارونې د بنديز، د دولتونو د حاکميت او د نړيوال قانون د مشروعيت له بنسټيزو اصولو سره په ټکر کې نه وي. د دې ترڅنګ، د احتمالي دفاع هر ډول مشروعيت

باید د ګواښ د طبیعت، شواهدو او د اقدام د ضرورت پر بنسټ په دقت سره وارزول شي، ترڅو یو داسې توازن رامنځته شي چې مشروع دفاعي اړتیاوې پوره کړي او هم د نړیوال ثبات اصول وساتي.

د پاملرنې وړ ده چې په وروستیو کلونو کې د سایبري بریدونو، تخنیکي جګړو او نوې ټېکنالوژۍ د پراخې ودې له امله د ملګرو ملتونو د منشور د ۵۱مې مادې د پلیتوب ساحه نوره هم پراخه شوې ده. سایبري بریدونه، چې ممکن له فزیکي ځواکونو پرته ترسره شي، اوس داسې بنې غوره کوي چې کولی شي د یو دولت امنیت، اقتصادي بنسټونه، یا ملکي خدمتونه جدي زیانمن کړي. که یو سایبري برید د برېښنا شبکې، مالي سیستم، روغتیایي خدمتونه یا نورو مهمو ملکي تاسیساتو د فلج سبب شي او د پراخ زیان لامل وګرځي؛ نو دا اقدام ممکن په "وسله‌وال برید" تعبیر شي، چې د ځان‌ساتنې مشروع حق ته لار هواروي (Focarelli 2021).

نوي حقوقي مطالعات دا استدلال کوي چې د ځواک کارونې دودیز تعریف باید د ټېکنالوژیکي بدلونونو او نویو تهدیدونو په رڼا کې بیا وارزول شي. دوی ټینګار کوي چې د سایبري فضا له لارې اغېزمن اقدامات، که څه هم فزیکي تاوتریخوالی پکې نه وي، د ځواک د کارونې هغه معیارونه پوره کولی شي چې د نړیوال قانون له مخې د ځاني‌دفاع توجیه برابروي (Madubuike-Ekwe 2021). له همدې امله، تمه کېږي چې د ځواک د کارونې تعریف په راتلونکي کې له دودیزو فزیکي وسایلو څخه پراخ شي، ترڅو د نویو امنیتي ګواښونو، غیرمستقیمو تهدیدونو او پېچلو ستراتیژیکو شرایطو انعکاس هم پکې شامل شي. دا تحول به نه یوازې د نړیوالو حقوقو د پلیتوب چوکاټ ته انعطاف ورکړي؛ بلکې د دولتونو لپاره به دا اسانه کړي چې د نویو ګواښونو پر وړاندې مشروع، متناسب او حقوقي غبرګون وښیي، پرته له دې چې د منشور له بنسټیزو اصولو څخه سرغړونه وشي.

لنډه دا چې د ملګرو ملتونو د منشور ۵۱مه ماده د دولتونو د مشروع ځاني‌دفاع یو اساسي، حیاتي او نړیوال اصل ګڼل کېږي، چې د نړیوالو حقوقو په چوکاټ کې د دولتونو د امنیتي واک د مشروعیت بنسټ جوړوي. دا ماده باید نه یوازې د حقوقي قواعدو له مخې؛ بلکې د نړیوالو واقعیتونو، بشري ارزښتونو، د سولې د نړیوالو هلو ځلو او د نړیوالو ګواښونو د پېچلتیا

پر بنسټ تفسير او تطبيق شي، ترڅو د ځواک کارونه له قانوني محدوديتونو سره همغږې شي. د دې مادې باثباته، شفاف او اصول‌محوره تطبيق نه يوازې د ځواک له خپلسري، انتخابي يا سياسي‌محور کارونې مخه نيسي؛ بلکې د نړيوال نظم مشروعيت، د دولتونو ترمنځ اعتماد او د نړيوالو حقوقو اعتبار هم پياوړی کوي. په همدې اساس، ۵۱مه ماده بايد د نړيوالو اصولو، د بشري کرامت د ارزښت او د سولې د دوامدارو ميکانيزمونو سره همغږې تفسير شي، ترڅو د نړيوالو شخړو د حل لپاره مشروع، عادلانه او د منلو وړ چوکاټ برابر کړي.

**۳. د ايران او اسرائيل پوځي ستراتيژۍ: د منځني ختيځ د امنيتي توازن تحليل**

د ايران او اسرائيل پوځي ستراتيژۍ د منځني ختيځ د امنيتي وضعيت بنسټيز او ټاکونکي اړخونه دي، چې د سيمې د جيوپوليټيکي سياليو، د قدرت توازن او امنيتي معادلو بڼه بدلوي. ايران هڅه کوي چې د نيابتي جګړو، سيمه‌ييزو متحدينو او غيرمستقيمو پوځي لاسوهنو له لارې خپل ستراتيژيک نفوذ پراخ کړي. د حزب‌الله، حوثيانو او نورو نيابتي ډلو ملاتړ د ايران لپاره يوه اغېزمنه ستراتيژي ده، چې د سيمه‌ييز نفوذ د پراختيا او د سيالانو د کنټرول لپاره د کم‌لګښته وسيلې په توګه کارول کېږي. سربېره پردې، ايران د خپلو بالستيک توغنديو، بې‌پيلوټه الوتکو او د سمندري ځواک د پراختيا له لارې هڅه کوي چې د سيمې د ستراتيژيکو لارو (لکه خليج فارس) کنټرول خپل کړي (Samad and Naz 2025).

له بلې خوا، اسرائيل د پوځي برلاسۍ ساتنې لپاره د پرمختللې ټکنالوژۍ، استخباراتي وړتياوو، سايبري عملياتو او دقيقو هوايي بريدونو تګلارې غوره کړې دي. د ايران د اټومي پروګرام محدودول، د نيابتي ګواښونو خنثی کول او خپل ملي امنيت خوندي ساتل د اسرائيل د پوځي ستراتيژۍ اصلي محورونه جوړوي. اسرائيل د ايران پر وړاندې د مخنيوي ستراتيژي تعقيبوي او هڅه کوي چې د ايران نظامي پرمختګونه د هوايي بريدونو او نړيوالو بنديزونو له لارې کمزوري کړي (Rakkas 2024).

په همدې اساس، ويلی شو چې د ايران او اسرائيل ترمنځ روانه سيالي نه يوازې د دواړو دولتونو دوه‌اړخيزې اړيکې کړکېچنې کړې؛ بلکې د منځني ختيځ د امنيتي توازن لپاره يې ژورې ستراتيژيکې ننګونې را ولاړې کړې دي. د ايران د سيمه‌ييز نفوذ پراخېدل، د اسرائيل

پر وړاندې د ګواښونو زیاتېدل او د دواړو لوریو د تقابل دوام د سیمې نورو دولتونو ته د امنیتي سیاستونو د بیاکتنې اړتیا پیدا کړې، چې له امله یې د سیمه‌ییزو اتحادونو، دفاعي تګلارو او د ګواښونو د ارزونې میکانیزمونه هم تر فشار لاندې راغلي دي. په دې لړ کې، د ایران او اسرائیل ترمنځ پوځي سیالي د منځني ختیځ د امنیتي بې‌ثباتۍ یو مهم محرک ګڼل کېږي، چې نه یوازې سیمه‌ییزو لوبغاړو ته سرخوږی جوړوي؛ بلکې نړیوال قدرتونه یې هم له نژدې څاري، ترڅو د احتمالي پراخېدونکي کړکېچ، نیابتي جګړو او د نړیوالو امنیتي معادلو پر توازن اغېز و ارزوي.

### ۱،۳. د ایران نیابتي جګړې او د نفوذي پراختیا ستراتیژي

د ایران ستراتیژي د اسلامي انقلاب ۱۹۷۹ کال له بریا او د ایران-عراق له اوږدې جګړې (۱۹۸۰-۱۹۸۸) وروسته له یو پراخ بدلون سره مخ شوه. د دغه جګړې پراخه انساني او اقتصادي زیانونو، نړیوالو بندیزونو او د دودیزو پوځونو کمزورتیا، ایران دې ته اړ کړ چې د مستقیم تقابل پرځای نیابتي جګړې، د وسله‌والو ډلو ملاتړ، تخنیکي پرمختګونو او سیمه‌ییزو اتحادونو له لارې خپل ملي امنیت تضمین کړي. ایران دا درک کړه چې د خپلو ستراتیژیکو موخو د تحقق لپاره باید د جګړې غیر دودیزې بڼې غوره کړي، ترڅو د خپلو سیالانو لکه اسرائیل، سعودي عربستان او لویدیځو قدرتونو پر وړاندې د اغېزناکو تګلارو له لارې خپله نفوذي ساحه پراخه کړي (Behravesh 2020).

د ایران ستراتیژي له څو اساسي عناصرو جوړه ده: لومړی، د نیابتي جګړو تګلاره ده چې د سپاه‌پاسداران انقلاب اسلامي ځانګړې ځانګه قدس ځواک یې مدیریت کوي. قدس ځواک د حزب‌الله (لبنان)، حماس او اسلامي جهاد (فلسطین)، حوثیانو (یمن) او شیعه ملېشو (عراق او سوریه) ملاتړ کوي، ترڅو د ایران نفوذ د سیمې په جیوپولیټیکي معادلاتو کې ژور اغېز ولري. دا نیابتي ډلې نه یوازې د ایران دفاعي ستراتیژیکه ژورتیا رامنځته کوي؛ بلکې د مستقیم تقابل پرځای، د غبرګون او فشار وسیلې هم دي (Akbarzadeh 2025).

دوهم مهم عنصر د توغندیزو او بې‌پیلوټه الوتکو پراخ پروګرامونه دي. ایران د منځنۍ واټن توغندیو، د کروز میزایلو، بې‌پیلوټه بریدګرو الوتکو او دقیقو هدفي سیستمونو پر پراختیا

باندې ځانګړې تمرکز کړی دی، ترڅو د مخنیوي ستراتیژي فعاله وساتي او په احتمالي برید کې د چټک غبرګون وړتیا ولري. د سایبري جګړې او اطلاعاتي عملیاتو پراخ کارول هم د ایران د دفاعي ستراتیژۍ یو مهم بُعد بلل کېږي. ایران هڅه کوي چې د سایبري بریدونو، هکینګ، تبلیغاتي کمپاینونو، معلوماتي او رواني جګړو له لارې خپل سیالان د داخلي بې‌ثباتۍ، ګډوډۍ او اطلاعاتي مغشوشیت سره مخ کړي (Akbarzadeh 2025).

سربېره پردې، ایران د ستراتیژیکې ژورتیا پالیسۍ له مخې هڅه کوي په سوریه، عراق او لبنان کې د خپل نفوذ کرښې پراخې کړي، ترڅو د اسرائیل او سعودي عربستان په څېر د خپلو سیالانو احتمالي بریدونه له خپل جغرافیایي حریم بهر کنټرول کړي. دا تګلاره له ایران سره مرسته کوي چې جګړه له خپلو پولو لرې وساتي او پر خپلو سیالانو باندې لوړ امنیتي لګښتونه تحمیل کړي. د دې ترڅنګ، ایران د نیابتي متحدینو کارونه د نفوذي پراختیا یو اغېزناک او لږ لګښتي میکانیزم ګرځولی دی؛ خو دغه تګلاره په نړیوالو بندیزونو، اقتصادي فشارونو، کورنیو ناخوښیو او سیمه‌ییزو سیالیو کې له جدي ننګونو سره مخ ده. سره له دې، ایران باور لري چې د نیابتي جګړو د پیاوړتیا له لارې، د پوځي او تخنیکي ظرفیتونو د دوامدار پرمختګ او د سیمه‌ییزو متحدینو د ملاتړ د پراختیا په وسیله، کولی شي د منځني ختیځ امنیتي وضعیت ته نوی شکل ورکړي. دا ستراتیژي نه یوازې د ایران د نفوذ د تثبیت هڅه ده؛ بلکې د سیمه‌ییزو قدرتونو ترمنځ د توازن د بیاکتنې لپاره هم کارول کېږي، ترڅو د اسرائیل او امریکا د نفوذ پر وړاندې متقابل فشار رامنځته کړي (Ghazal 2025).

### ۲,۳. د اسرائیل اندېښنې او د مخنیوي ستراتیژي

د ایران اټومي پروګرام د منځني ختیځ په سیمه کې د امنیتي توازن لپاره یو مهم او پېچلی ګواښ ګڼل کېږي، چې د اسرائیل د ملي امنیت ستراتیژۍ په چوکاټ کې کلیدي ځای لري. که څه هم ایران په رسمي توګه ادعا کوي چې دا پروګرام یې یوازې سوله‌ییز او د انرژۍ د تولید لپاره دی؛ خو د یورانیمو د غنامندۍ په کچه کې د پام وړ پرمختګونه، د بالستیک توغندیو پراختیا او د اټومي وسلو احتمالي تولید د اسرائیل لپاره ژورې اندېښنې رامنځته کړې دي. دغه اندېښنې نه یوازې د اسرائیل د دفاعي اقداماتو محور جوړوي؛ بلکې د سیمه‌ییزو او

نړیوالو امنیتي سیاستونو د بیاکتنې اړتیا هم رامنځته کوي (Azizi and Barnes-Dacey 2025).

اسرائیل په خپله امنیتي او دفاعي ستراتیژۍ کې چې د بیګن ډاکټراین په نوم پېژندل کېږي، په کلکه ټینګار کوي چې هېڅ یو دښمن ته به اجازه ور نه کړي چې اټومي وسلې ترلاسه کړي یا د اټومي وسلو د جوړونې لپاره اړینې ټکنالوژۍ او موادو ته پراختیا ورکړي. دغه ستراتیژي د اسرائیل د لومړي وزیر مناخم بیګن له خوا د ۱۹۸۰کلونو په پیل کې رامنځته شوه، کله چې اسرائیل له ګڼ شمېر سیمه‌ییزو او نړیوالو ګواښونو سره مخ و. د بیګن ډاکټراین د مخنیوي او مخکیني برید پر اصولو ولاړه ده، چې له مخې یې اسرائیل د هر احتمالي ګواښ پر وړاندې په مستقیمه توګه د اقدام حق لري. دا اصول په ځانګړي ډول د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي لپاره را منځته شوي؛ ځکه اسرائیل باور لري چې په سیمه کې د اټومي وسلو شتون به د امنیتي توازن د شدیدې ګډوډۍ او احتمالي جګړو لامل شي (Fedrigo 2025).

د ایران اټومي پروګرام د دې ستراتیژۍ په رڼا کې د اسرائیل لپاره یو ډېر جدي او پیچلی امنیتي ګواښ دی. اسرائیل په دوامداره توګه د ایران د یورانیمو د غنامندۍ د پرمختګونو څارنه کوي او له استخباراتي ادارو یې غوښتنه کړې چې د ایران د اټومي فعالیتونو په اړه دقیق معلومات را ټول کړي. که ایران اټومي وسلې ترلاسه کړي؛ نو اسرائیل دا وضعیت نه یوازې د خپل ملي امنیت لپاره یو ستر ګواښ ګڼي؛ بلکې د سیمه‌ییز قدرت د توازن او د خپلو ستراتیژیکو متحدینو د امنیت لپاره یې هم یوه ژوره اندېښنه بلل کېږي. له همدې امله، د بیګن ډاکټراین په چوکاټ کې اسرائیل احتمالي پوځي او استخباراتي عملیات په پام کې نیولي، چې موخه یې د ایران د اټومي پروسې په پرمختګ کې ځنډ را وستل یا بشپړ مخنیوی دی (Davenport 2024).

دغه ستراتیژي یوازې تر مستقیمو پوځي عملیاتو پورې محدوده نه ده؛ بلکې یوه پراخه او څو اړخیزه تګلاره ده چې استخباراتي څارنې، نړیوال فشارونه، ډیپلوماټیکې هڅې او د اړتیا پرمهال د مخنیوي احتمالي مخکیني بریدونه هم پکې شامل دي. د دې ستراتیژۍ موخه دا ده چې ایران هیڅکله و نه شي کولی چې د اټومي وسلو د جوړونې ټکنالوژي او وړتیا په

بشپړه توګه ترلاسه کړي. دا هم باید په پام کې ونیول شي، چې دغه تګلاره د اسرائیل لپاره له امنیتي اړخه یوه داسې کړښه ده چې تر هغې وروسته یې د زغم امکان کمزوری کېږي او ممکن په سیمه کې نورې اوږدمهاله جګړې او کړکېچونه رامنځته شي (Davenport 2024).

په ټوله کې، د بیګین ډاکترین له مخې اسرائیل د ایران د اټومي پروګرام د مخنیوي لپاره یوه پراخه او څو اړخیزه ستراتیژي غوره کړې ده، ترڅو د امنیتي ګواښونو پر وړاندې خپل دفاعي او ستراتیژیک دریځ غښتلی کړي. دغه ډاکتراین، چې د اسرائیلي لومړي وزیر مناخم بیګن په وخت کې رامنځته شوې، د دې اصل پر بنسټ ولاړ دی چې اسرائیل هېڅکله خپلو دښمنانو ته د اټومي وسلو د ترلاسې اجازه نه ورکوي. د بیګن ډاکترین پلیتوب یوازې یو پوځي تکتیک نه دی؛ بلکې یوه ژوره امنیتي تګلاره ده چې د احتمالي ګواښونو د مخنیوي، د اټومي وسلو د پراختیا د کنټرول او د سیمه‌ییز امنیت د توازن ساتنې لپاره جوړه شوې ده (Fedrigo 2025).

اسرائیل د جغرافیایي محدودیتونو او د سیمه‌ییزو ګواښونو د تراکم له امله تل هڅه کړې چې د مخنیوي او چټکو بریدونو ستراتیژي غوره کړي، ترڅو د خپلو دښمنانو د اټومي ظرفیتونو د پراختیا مخه ونیسي. دا تګلاره چې د بیګن ډاکتراین له فلسفې سره سمون لري، اسرائیل ته دا حق ورکوي چې هر هغه ګواښ ته چې د اټومي وسلو د جوړونې په برخه کې پرمختګ کوي، مخکې له دې چې تهدید عملي بڼه غوره کړي، په قاطع او چټک ډول ځواب ووایي. د اسرائیل باور دا دی که ایران اټومي وسلې ترلاسه کړي، نه یوازې د اسرائیل امنیتي موقف به له ګواښ سره مخ شي؛ بلکې د ټولې سیمې امنیتي توازن به ګډوډ شي، چې په پایله کې به د اوږدمهاله جګړو او کړکېچونو احتمال نور هم زیات شي. له همدې امله، اسرائیل د خپلو استخباراتي، نظامي، ډیپلوماټیکو او اقتصادي امکاناتو له لارې هڅه کوي چې د ایران اټومي پروګرام د مخنیوي په موخه یو جامع چوکاټ جوړ کړي، ترڅو د اوږدمهاله امنیت او ثبات بنسټونه خوندي وساتل شي.

د یادونې وړ ده چې د اسرائیل ستراتیژي په بنسټیز ډول د مخنیوي پر اصولو ولاړه ده، چې ګڼ مهم عناصر او اساسي تکتیکي برخې لري. دغه ستراتیژي په لومړي سر کې هڅه کوي چې هر ډول احتمالي امنیتي ګواښ له رامنځته کېدو مخکې بې‌اغېزې کړي، ترڅو د

اسرائیل د ملي بقا او امنیت تضمین وشي. د دې لپاره اسرائیل له څو اړخیزو لارو چارو لکه د استخباراتي شبکو پراختیا، هدفي پوځي بریدونو ترسره کول، د پرمختللو دفاعي سیستمونو جوړول او د سیمه‌ییزو او نړیوالو متحدینو سره له ستراتیژیکو ائتلافونو جوړونې څخه کار اخلي. دغه تکتیکونه په ګډه نه یوازې د امنیتي ګواښونو پر وړاندې د اسرائیل موقف پیاوړی کوي؛ بلکې د سیمه‌ییز قدرت توازن د دغه دولت د ګټو په رڼا کې تنظیموي او د ایران په څېر احتمالي رقیبانو د نفوذي پراختیا مخه هم نیسي. له همدې امله، د اسرائیل د مخنیوي ستراتیژي یوازې یوه دفاعي تګلاره نه ده؛ بلکې یو فعال او هر اړخیز سیاسي، پوځي او استخباراتي چوکاټ دی، چې موخه یې د اسرائیل د اوږدمهاله امنیتي او ستراتیژیکو ګټو خوندي کول دي (Bergman 2018).

**۱,۲,۳. مخنیوي بریدونه:** اسرائیل په خپل تاریخ کې څو ځله د احتمالي ګواښونو د له‌منځه وړلو لپاره د مخنیوي مخکیني پوځي بریدونه ترسره کړي دي. د ۱۹۸۱ کال په جون میاشت کې د عراق د اوسیرک اټومي بټۍ بمبارد، چې د اوپیرا عملیات په نوم پېژندل کېږي، د دې ستراتیژۍ یوه روښانه بېلګه ګڼل کېږي. همدارنګه، په ۲۰۰۷ کال کې د سوریې د دیرالزور سیمې پر اټومي تأسیساتو هوایي برید، چې داورچارډ عملیات نومېږي، د اسرائیل د مخنیوي تګلارې یو بل څرګند مثال دی. دغه بریدونه د دې لپاره ترسره شول، ترڅو اسرائیل ډاډ ترلاسه کړي چې هېڅ دښمن دولت باید د اټومي وسلو د جوړونې وړتیا و نه لري (Gans 2024).

**۲,۲,۳. هدفي وژنې:** د اسرائیل استخباراتي ادارې، په ځانګړي ډول موساد، د هدفي وژنو مختلفې ستراتیژۍ کارولې، ترڅو د ایران او حزب‌الله مهم نظامي او تخنیکي شخصیتونه له منځه یوسي. دا عملیات د دښمن د رهبرۍ کمزورتیا، د پرمختللو نظامي پروژو د ځنډ او د ګواښونو د شدت د کمښت لپاره ترسره کېږي. د ایران د اټومي پروګرام د لوړپوړو ساینس‌پوهانو وژنې، لکه د محسن فخري زاده ترور، د دغې ستراتیژۍ د پلیتوب ژوندۍ بېلګه ګڼل کېږي (Arora 2025).

**۳,۲,۳.سایبري جګړه:** اسرائیل د سایبري جګړې په ډګر کې هم فعاله ستراتیژي خپله کړې ده. د سټکسنیټ ویروس، چې په ګډه د اسرائیل او امریکا له خوا د ایران د نتنز اټومي

تأسیساتو د تخریب لپاره کارول شوی و، د سایبري جگړې بېلگه ده. دا بریدونه نه یوازې د ایران د اټومي پرمختگ بهیر ته زیان رسوي؛ بلکې د اسرائیل د سایبري وړتیاوو او استخباراتي دقت پیاوړتیا هم گڼل کېږي (Saunokonoko 2021).

**۴,۲,۳. نامعلوم اټومي ظرفیت:** که له یوې خوا، اسرائیل تراوسه په رسمي ډول د اټومي وسلو درلودنې اعتراف نه دی کړی؛ خو له بلې خوا یې له نه درلودنې څرگند انکار هم نه دی کړی؛ بلکې په نړیواله کچه پراخ باور دا دی چې اسرائیل د اټومي ظرفیت لرونکی دولت گڼل کېږي. دغه ستراتیژیک ابهام د اسرائیل د دفاع یوه اغېزمنه وسیله ده؛ ځکه دښمن دولتونه هېڅکله د اسرائیل د احتمالي غبرگون د شدت او څرنگوالي په اړه ډاډه نه وي. دا مبهم دریځ اسرائیل ته فرصت برابروي چې خپل امنیتي اهداف خوندي وساتي، پرته له دې چې په ښکاره ډول په اټومي سیالۍ کې گډونوال وپېژندل شي (Fedrigo 2025).

**۳,۳. سیمه‌ییز ائتلافونه: د ایران پر وړاندې ستراتیژیکې تگلارې**

اسرائیل د ایران د سیمه‌ییز نفوذ د محدودیت او د خپلې امنیتي ستراتیژۍ د پیاوړتیا لپاره له عربي دولتونو سره خپلې اړیکې د پام‌وړ کچې ته لوړې کړې دي. د ابراهیم تړونونه چې په ۲۰۲۰ کال کې د متحده عربي اماراتو، بحرین او مراکش سره د اړیکو د عادي کولو له لپاره پیل شول، د اسرائیل لپاره د یو نوي سیمه‌ییز ستراتیژیک ائتلاف بنسټ بلل کېږي. دغه تړونونه که څه هم په ظاهري بڼه اقتصادي، تجارتي او ډیپلوماتیک ارزښت لري؛ خو د امنیتي مفهوم له مخې د اسرائیلي سیمه‌ییز نفوذ پراختیا او د ایراني نفوذ د محدودیت لپاره یوه حساب شوې تگلاره گڼل کېږي (Norlen and Sinai 2020).

د ابراهیم تړونونه د اسرائیل او د خلیج سني عربو دولتونو ترمنځ د هغو گډو گټو انعکاس دی چې د ایران د سیمه‌ییزو سیاستونو پر وړاندې یې رامنځته کړی. دا نوي اتحادونه د ایران د شیعه هلال[1] پر ضد د یوې منظمې او همغږې ستراتیژۍ هڅه ده، چې هدف یې د ایران د سیمه‌ییزې

---

(۱) شیعه هلال (Shia Crescent) یو جیوپولیتیکي مفهوم دی چې د ایران د سیمه‌ییز نفوذ ساحه د هلال (میاشت) په بڼه وړاندې کوي؛ چې له لبنان څخه پیل د سوریې او عراق له منځه تېرېږي او تر یمن پورې

پراختیایي اجنډا مخنیوی او د منځني ختیځ د امنیتي توازن بیارغول دي. ترسره شوي تړونونه په ډاګه کوي چې اسرائیل او عربي دولتونه هڅه کوي د ایران د نیابتي ډلو، لکه حزب‌الله، حوثیانو او عراقي شیعه ملېشو، د نفوذ پراختیا ته عملي غبرګون وښیي (Triantama 2023).

دغه نوی سیمه‌ییز اتحاد د جیوپولیټیکي تعاملاتو نوې بڼه وړاندې کوي، چې د اسرائیل او عربي دولتونو ګټې د ایران د سیمه‌ییزو ګواښونو پر وړاندې سره نښلول کېږي. سربېره پردې، اسرائیل هڅه کوي چې نه یوازې د ایران پر وړاندې یو پراخ امنیتي کمربند رامنځته کړي؛ بلکې د خپل سیاسي او اقتصادي نفوذ د پراختیا لپاره هم زمینه برابره کړي. دا ستراتیژي د اسرائیل لپاره د ایران د ستراتیژیکې محاصرې یوه نوې مرحله ګڼل کېږي، چې هدف یې د ایراني نفوذي پراختیا د مخنیوي ترڅنګ د اسرائیل سیمه‌ییزه برلاسي ټینګه ساتل دي.

### ۴،۳. د ستراتیژۍ اغېزې او د سولې امکانات

د ایران او اسرائیل ترمنځ ستراتیژیک رقابت د منځني ختیځ د امنیتي توازن لپاره یو خورا حساس او پېچلی وضعیت رامنځته کړی دی. دواړه حریفان د خپلو امنیتي ګټو د خوندیتوب لپاره سیالۍ ته دوام ورکوي، چې پایله یې د سیمه‌ییزو کړکېچونو ژورتیا او د یو احتمالي نظامي ټکر رامنځته کېدل دي. که څه هم اسرائیل د ایران د اټومي پروګرام پراخېدل د خپل ملي امنیت لپاره یو ستر ګواښ ګڼي، ایران بیا اسرائیل د امریکا د ستراتیژیکو موخو د تعقیب یوه وسیله ګڼي، چې د اسلامي نړۍ د سیاسي او کلتوري ارزښتونو پر وړاندې دښمني کوي (Bar 2020).

دواړه دولتونه په خپلو ستراتیژیکو محاسباتو کې د پوځي فشار، مخنیوي بریدونو، سایبري جګړو او استخباراتي عملیاتو ته لومړیتوب ورکوي. اسرائیل د بیګېن ډاکټراین له مخې هڅه کوي چې د ایران د اټومي وسلو د ترلاسي هر ډول هڅه له منځه یوسي، په‌داسې حال کې چې ایران د نیابتي ډلو (لکه حزب‌الله، حوثیان او عراقي ملېشې) له لارې د اسرائیل پر وړاندې د نفوذ ساحه پراخوي (Akbarzadeh 2025). دا وضعیت نه یوازې د منځني ختیځ امنیتي

---

غځېدلی دی. شیعه هلال یا میاشت د ایران له‌خوا د مذهبي، ایډیولوژیکي او نیابتي اړیکو د کارونې هغه ستراتیژي تمثیلوي چې هدف یې د منځني ختیځ د قدرت توازن بدلول او د مقاومت محور پیاوړی کول دي.

توازن ته زیان رسوي؛ بلکې د نړیوالو امنیتي اندېښنو یوه مهمه سرچینه گرځي. همدارنگه، ځینې شنونکي باور لري چې د ډیپلوماتیکو هڅو له لارې د ایران او اسرائیل ترمنځ شته کړکېچونه د حل امکان لري. د دواړو دولتونو ترمنځ د خبرو اترو پیل، د باور جوړونې اقدامات او د سیمه‌ییزو امنیتي چوکاټونو رامنځته کول کولی شي چې د کړکېچونو د مدیریت لپاره اغېزمنه لار وگڼل شي. دوی استدلال کوي چې د منځني ختیځ امنیتي سیستم باید له پوځي رقابت څخه د سیاسي تفاهم پر لور بدل شي، ترڅو اوږدمهاله ثبات ته زمینه برابره شي. د دې ترڅنگ، دا هڅې د یو لړ جدي ننگونو سره مخ دي. د ایران او اسرائیل ترمنځ ژوره بې‌باوري، چې له تاریخي، ایډیولوژیکي او جیوپولیتیکي اختلافاتو سرچینه اخلي، د هر ډول تفاهم امکانات محدودوي. د اسرائیل لپاره د ایران اټومي پروگرام، د دوی د ملي بقا او امنیت مستقیم گواښ گڼل کېږي، په‌داسې حال کې چې ایران اسرائیل د سیمې د مسلمانانو پر وړاندې د امریکا "استعماري لاس" گڼي. سربېره پردې، په دواړو دولتونو کې داخلي سیاسي فشارونو، سخت‌دریځه ډلو او ملي افکارو د سولې هڅې تر سیوري لاندې راوستې دي (Roomi 2023).

په پای کې ویلی شو که څه هم ډیپلوماتیکې هڅې یو نظریاتي بدیل ښکارېږي؛ خو د دواړو رقیبانو د سختو امنیتي محاسباتو له امله د شته رقابت د پای لپاره یوه اوږدمهاله، ژوره او پر تدبیر ولاړه ستراتیژي اړینه ده. د باور جوړونې اقدامات، سیمه‌ییز امنیتي تفاهمات او د نړیوالو منځگړو رول کولی شي دا کړکېچ مدیریت کړي؛ خو دا پروسه به د وخت، زغم او ژورو سیاسي بدلونونو غوښتنه وکړي.

### ۴. نظریاتي لیدلوری: نیوریالیزم او بریدگر ریالیزم

د ایران-اسرائیل شخړه د منځني ختیځ په معاصر تاریخ کې تر ټولو پېچلې او ژوره شخړه گڼل کېږي، چې د ستراتیژیکو اړتیاوو، تاریخي ناخوالو او ارزښتي ټکرونو له امله رامنځته شوې ده. که څه هم د دواړو سیالانو مستقیمې جگړې کمې دي؛ خو د دوی مخالفت په نیابتي شخړو، سایبري عملیاتو، ډیپلوماتیکي او لفظي شخړو کې څرگند شوی دی. د دې اوږدمهاله دښمنۍ تر شا د نړیوالو اړیکو د ډسپلین مخکښو تیوریو نیوریالیزم او بریدگر

ریالیزم نظریاتي چوکاټونه مهم تحلیلي وسایل دي. دغه نظریې چې د ریالیزم په چوکاټ کې رامنځته شوې، د جوړښتي محدودیتونو، ستراتیژیکو موخو او نظریاتي غوښتنو په رڼا کې د ایران او اسرائیل د چلند محرکات دي. نیوریالیزم او بریدګر ریالیزم د دواړو لوریو ستراتیژیکو محاسباتو ته مهم لید وړاندې کوي؛ خو د شخړې د پیچلتیا بشپړ فهم لپاره باید د کنسټرکټویزم د هویت پېژندنې اصل هم ورسره یوځای شي (Roomi 2023).

نیوریالیزم لکه څنګه چې کینټ والټز تشریح کړی، ادعا کوي چې نړیوال نظم انارشي دی، یعنې هېڅ مرکزي واک نه شته چې قواعد تطبیق کړي یا شخړې حل کړي. په دې نظام کې دولتونه اړ دي چې خپلې بقا ته لومړیتوب ورکړي؛ ځکه دولتونه د ځواک د زیاتوالي او نسبي ګټو په لټه کې وي. دا جوړښتي حالت د بې باورۍ او سیالۍ فضا رامنځته کوي، چې د یو دولت دفاعي اقدامات د بل دولت لخوا برید ګڼل کېدی شي، چې امنیتي معضله رامنځته کوي (Fedayee 2025). د ایران سیمه‌ییز موقف او د نیابتي ډلو ملاتړ د دغه دعوې یوه څرګنده بېلګه ده. ایران چې د اسرائیل او د هغه له لویدیځو متحدینو له لوري د جدي ګواښونو سره مخ دی، د مخنیوي تګلاره غوره کړې او خپل نفوذ یې په سوریه، لبنان او عراق کې د حزب‌الله او شیعه وسله‌والو ډلو له لارې پراخ کړی دی. دغه نیابتي ډلې نه یوازې د ستراتیژیک خوندیتوب وسیلې دي؛ بلکې د نامتقابلې جګړې آلې هم دي، چې ایران ته اجازه ورکوي چې خپل ځواک څرګند کړي او له مستقیمې جګړې پرته ځواب ووایي (Tanvir and Abbas 2024).

بلخوا، اسرائیل بیا د ایران سیمه‌ییزې لاسوهنې او د توغندیو پراختیا د دښمنۍ څرګندې نښې ګڼي. د اسرائیل امنیتي بنسټونه د ایران اټومي اهداف او وسله‌والو ډلو ملاتړ د دې ستراتیژۍ برخه ګڼي چې اسرائیل بې ثباته کړي. سربېره پردې، اسرائیل د مخنیوي او ضربتي اقداماتو په موخه د بیګېن ډاکټرین غوره کړې، چې د ایران اټومي ساینس‌پوهانو هدفي وژنې، سایبري بریدونه او په سوریه کې د ایران په نفوذي سیمو هوایي بریدونه پکې شامل دي. دغه کړنې د نیوریالیزم له اساسي مفروضو سره همغږې دي، که یو دولت د سیمه‌ییز ځواک د توازن د بدلون نښې ویني؛ نو هڅه کوي چې د مقابل لوري د نفوذ د پراخېدو مخه ونیسي، خپله ستراتیژیکه برلاسي وساتي او د امنیتي توازن د ګډوډېدو پر وړاندې احتیاطي

تدابير ونيسي، چې په پايله کې د ځواک توازن رامنځته کېږي او د ګډوډۍ مخنيوی ترسره کېږي (Tanvir and Abbas 2024).

همدارنګه، د نيورياليزم منطقي مفاهيم په وسله‌وال رقابت او د ستراتيژيکو اهدافو په نښه کولو کې څرګند انعکاس لري. د ايران د بالیستیک توغنديو پراختيا، چې ځينې يې په څرګند ډول د اسرائيل پر خاوره توغول شوي، د مخنيوي تګلارې يوه بېلګه ده؛ داسې تګلاره چې د اسرائيل له وخته مخکې برید پر احتمالي وېره ولاړ دی او د سيمه‌ييز ځواک د توازن د ساتنې هڅه کوي. له بلې خوا، د اسرائيل د توغنديو دفاعي سيستمونه لکه "آيرن ډوم"، "ډېوېډ سنګ" او "ايرو-۳" د ايران احتمالي ځواب ته چمتووالی څرګندوي او د ستراتيژيکو اهدافو په نښه کولو باندې تمرکز لري. د متقابل شک او بې‌باورۍ له امله، هر دولت د بل لوري اقدامات د احتمالي ګواښ په توګه تعبيروي، چې د يو او بل دفاعي تدابير د يرغل نښې ګڼل کېږي. دا فرضيه د نيورياليزم هغه ادعا تائيدوي چې په انارشيک نړيوال نظام کې د باور نشتوالی د امنيت د کمښت لامل ګرځي او دولتونه د بقا د تضمين لپاره د دوامدارې سيالۍ په حالت کې پاتې کېږي (Ellis 2025).

که څه هم نيورياليزم د ايران او اسرائيل د ستراتيژيک چلند لپاره جوړښتي توضيحات وړاندې کوي؛ خو د دوی د دښمنۍ نظرياتي اړخونه په بشپړ ډول نه څېړي. دلته د بريدګر رياليزم تيوري په ځانګړې توګه د جان ميرشايمر نظريه اړين پوهاوی وړاندې کوي. بريدګر رياليزم وايي چې دولتونه يوازې د بقا لپاره دفاعي لوبغاړي نه دي؛ بلکې د ځواک د اعظميت لپاره هڅې کوي او که فرصت وي سيمه‌ييز يا نړيوال تسلط ترلاسه کوي (Fedayee 2025). د ايران په قضيه کې د اسرائيل پر وړاندې دښمني يوازې د ګواښونو ځواب نه دی؛ بلکې د دې نظرياتي ارادې څرګندونه ده چې د اسلامي نړۍ مشري وکړي او د لوېديځ واکمني ننګوي. د ايران انقلابي هويت چې د ۱۹۷۹ کال اسلامي انقلاب سره تړلی، اسرائيل د استعماري اډې او د لوېديځ امپرياليزم نښه ګڼي. دغه نظرياتي دريځ په رسمي وينا، د اسرائيل ضد مقاومت ډلو ملاتړ او د اسرائيلي دولت سره د عادي اړيکو پرېکون کې څرګندېږي (Roomi 2023).

سربېره پردې، د ايران بريدګر دريځ داخلي مشروعيت هم لري چې د بهرنيو ګواښونو پر

وړاندې د مقاومت او دفاع ټینګار کوي. دغه چلند د ایراني رژیم داخلي یووالی پیاوړی کوي، ملي او مذهبي احساسات را پاروي او د اقتصادي ستونزو او سیاسي مخالفتونو پام بل لوري ته اړوي. د دغه نظریې او ستراتیژۍ ترمنځ همغږي په دې کې څرګندېږي چې ایران څرنګه خپله دښمني پرمخ وړي؛ په لوړه کچه لفظي او بریدګر دریځ ساتي؛ خو له مستقیم پوځي ټکر څخه چې د رژیم ثبات ته ګواښ پېښوي ډډه کوي. دغه دوه اړخیزه بڼه د نیوریالیزم هغه فرضیه پېچلې کوي چې دولتونه یواځې مادي ګټې تعقیبوي. باید وویل شي چې په ایران کې هویت، تاریخي ناخوالې او انقلابي نظریات له ستراتیژیکو محاسبو سره ژور تړاو لري (David 2023).

که څه هم اسرائیل ډېری وخت یوازې د ستراتیژۍ له اړخه یو لوبغاړی ګڼل کېږي، خو خپله هم په یو نظریاتي چوکاټ کې فعالیت کوي. د اسرائیل د ملي امنیت ډاکټرین نه یوازې د ریالیزم پر بنسټ ولاړه ده؛ بلکې د هولوکاسټ تراما او د یهودي رژیم د خوندي ساتنې اړتیا هم پکې شامله ده. دغه لید د اسرائیل د صفر تحمل پالیسۍ په رامنځته کولو کې مهم رول لري، چې د بیګېن ډاکټرین یې څرګندوي (Wertman and Kaunert 2023). دا ډاکټرین ټینګار کوي چې اسرائیل به هېڅ دښمن ته اجازه ور نه کړي چې اټومي وسلې ولري، چې د عراق د اوسیراک ریاکټر په ۱۹۸۱ کال او د سوریې د الکیبار په ۲۰۰۷ کال بریدونو د توجیه لپاره کارول شوی دی.

د یادونې وړ ده چې اسرائیل په ځانګړې توګه د ایران پر وړاندې خپلې امنیتي ډاکټرین ته څو اړخیزه ستراتیژیکه بڼه ورکړې، چې استخباراتي عملیات، سایبري جګړې، ډیپلوماټیک فشار او د نړیوالو ائتلافونو له لارې د نفوذي پراختیا هڅې پکې شاملې دي. د دې ستراتیژۍ موخه دا ده چې د ایران اټومي پروګرام شنډ کړي، د سیمه‌ییزو تهدیدونو مخه ونیسي او د احتمالي ستراتیژیکو بدلونونو پر وړاندې د ځان‌ساتنې وړتیا پیاوړې کړي. دا تګلاره نه یوازې د اسرائیل د ملي امنیت د تأمین هڅه ده؛ بلکې د منځني ختیځ د امنیتي وضعیت د بیا تنظیم لپاره هم کارول کېږي، چې له امله یې د نړیوالو قدرتونو پام، د ملګرو ملتونو د حقوقي چوکاټونو ارزونه او د سیمه‌ییزو دولتونو د دریځونو بیاکتنه هم راپارېدلې ده (Bar 2020).

د بریدګر ریالیزم لید د اسرائیل پراخه سیمه‌ییزه ستراتیژي هم روښانه کوي، چې د ابراهیم تړونونو په پایله کې له عربي دولتونو سره د اړیکو عادي کول پکې شامل دي. اسرائیل د خلیج له شاهي کورنیو سره، چې د ایران د سیمه‌ییزو پراختیایي اهدافو په اړه ژورې اندېښنې لري، د اړیکو د پراختیا له لارې هڅه کوي چې د منځني ختیځ د ځواک توازن په خپله ګټه بدل کړي او ایران له سیمه‌ییزو او نړیوالو ډیپلوماتیکو تعاملاتو منزوی کړي. دا ستراتیژي نه یوازې د امنیتي همکارۍ پراختیا ته لاره هواروي؛ بلکې د ایران د نفوذ پر وړاندې د ګډو دریځونو د رامنځته کولو هڅې هم ګڼل کېږي (Barany 2020). دغه ستراتیژي د ځواک اعظمیت منطق څرګندوي، چې اسرائیل خپله ټیکنالوژیکه او نظامي برلاسي د ستراتیژیکو همکاریو د پراختیا او دښمنیو د محدودیت لپاره کاروي.

که څه هم د نیوریالیزم او بریدګر ریالیزم ګډ تحلیل د ایران-اسرائیل شخړې ځینې ستراتیژیک اړخونه روښانه کوي؛ خو دا تحلیل د شخړې ټول بعدي ماهیت نه پوښي؛ ځکه چې د دواړو سیالانو ترمنځ د هویت، تاریخي روایت او ارزښتونو رول مهم ګڼل کېږي. د کنسټرکټیویزم له نظره د ایران-اسرائیل شخړه د مادي ګټو پر بنسټ نه ده؛ بلکې د دواړو دولتونو د هویتونو، ارزښتونو او تاریخي روایتونو له مخې رامنځته شوې ده. ایران ځان د اسلامي مقاومت سمبول ګڼي، په‌داسې حال کې چې اسرائیل ایران د خپل وجود لپاره یو ایډیالوژیک ګواښ بولي.کنسټرکټیویزم استدلال کوي چې د دولت چلند یوازې د مادي وړتیاوو او جوړښتي محدودیتونو تابع نه دی؛ بلکې د ټولنیزو جوړښتونو، فکري عواملو او متقابل چلند تر اغېز لاندې رامنځته کېږي. د دغه لیدلوري له مخې، د ایران دښمني یوازې د ستراتیژیکې سیالۍ محصول نه ده؛ بلکې د خپل ځان د انقلابي دولت په توګه د تعریف څرګندونه ده؛ داسې دولت چې د خپلو شعارونو د تحقق لپاره د بې‌عدالتیو او غربي امپریالیزم پر وړاندې د مقاومت ژمنتیا لري. په همدې اساس، د اسرائیل امنیتي دریځ د هغه هویت څرګندونه کوي چې ځان د یو زیانمن او ګواښمن دولت په توګه درکوي؛ هغه هویت چې د تاریخي کړاوونو او پرلپسې جدي ګواښونو پر بنسټ یې ترلاسه کړی او که اوس ترې سلب شي؛ نو اسرائیلي دولت خپل مشروعیت له لاسه ورکوي (Salameh and Ishakat 2022).

لنډه دا چې د ایران-اسرائیل شخړه یوازې د ریالیستي نظریو په چوکاټ کې نه څېړل کېږي؛ ځکه چې ریالیزم د دواړو دولتونو د امنیت‌محوره سیاستونو، د ځواک د توازن هڅو او د بقا د تضمین لپاره د سختو دریځونو د تشریح وړتیا لري. له بلې خوا، ریالیزم د ایډیولوژیکو هویتونو او داخلي مشروعیت د فکتورونو په تحلیل کې پاتې راځي، چې دغه فکتورونه د شخړې دوام او ژورتیا ته بنسټ برابروي. نیوریالیزم د شخړې د تحلیل لپاره جوړښتي چوکاټ وړاندې کوي، بریدګر ریالیزم د سیالۍ او دښمنۍ تر شا محرکات روښانوي او کنسټرکټیویسټ لید هغه فکري او هویتي عوامل څرګندوي چې د دولتونو چلند رامنځته کوي. د دغو درېیو لیدونو ګډه څېړنه د داسې شخړې څو اړخیز انځور وړاندې کوي چې لا هم د حل پر وړاندې مقاومت کوي؛ ځکه چې دا یوازې د ستراتیژیکو اړتیاوو او مادي ګټو پر بنسټ نه؛ بلکې د ژورو تاریخي روایتونو، هویتي تضادونو او د مخنیوي او رد منطق پر محور ولاړه ده. له همدې امله، د تاوتریخوالي د کمښت هره اغېزمنه هڅه باید نه یوازې د ځواک او امنیت مادي واقعیتونو ته پام وکړي؛ بلکې د دښمنۍ د دوام سمبولیک، ارزښتي او نظریاتي ابعاد هم په پام کې ونیسي.

### ۵. پایله

د ایران-اسرائیل شخړه د نړیوالو حقوقو، نړیوالو اړیکو او سیمه‌ییزو امنیتي معادلو په ډګر کې یوه ژوره، پېچلې او څو اړخیزه قضیه ده، چې د حقوقي اصولو، ستراتیژیکو تګلارو او نظریاتي محرکاتو ترمنځ متقابل تعامل ته اړتیا لري. د ملګرو ملتونو منشور، په ځانګړي ډول د ۲ مادې (۴) بند او ۵۱ ماده، د ځواک د کارونې بندیز او د مشروع ځاني‌دفاع حق تعریفوي، چې د دواړو دولتونو د پوځي اقداماتو د قانوني ارزونې لپاره بنسټیز چوکاټ برابروي. د ملګرو ملتونو منشور د ۲(۴) ماده د نړیوال نظم د ثبات لپاره پر ځواک کارونه یو مطلق بندیز وضع کوي؛ خو ۵۱ ماده بیا د وسله‌وال برید په صورت کې د دفاع مشروع حق تضمینوي، چې باید د ضرورت، تناسب او لنډمهاله محدودیتونو تابع وي.

د ایران او اسرائیل پوځي ستراتیژۍ د منځني ختیځ د امنیتي توازن د بدلون لپاره مهم عوامل دي. ایران د نیابتي جګړو، تخنیکي پرمختګونو او سیمه‌ییزو متحدینو له لارې د خپلې

نفوذي پراختيا هڅه کوي، پهداسې حال کې چې اسرائيل د بيګړن ډاکټراين له مخې د احتمالي ګواښونو د لهمنځه وړلو لپاره د مخنيوي بريدونه، استخباراتي عمليات او سايبري جګړې تعقيبوي. د ايران اټومي پروګرام د اسرائيل لپاره جدي ګواښ ګڼل کېږي او اسرائيل هڅه کوي چې د دغه پروګرام پرمختګ له نظامي، ډيپلوماټيکو او استخباراتي لارو محدود کړي.

د نړيوالو اړيکو نظريات، په ځانګړي ډول نيوريالېزم، بريدګر رياليزم او کنسټرکټويزم، د شخړې د تحليل لپاره مهمې فکري وسيلې دي. نيوريالېزم د انارشيک نظام، د بقا لپاره د ځواک د زياتوالي او د امنيتي معضلې منطق توضيح کوي، چې د دواړو دولتونو د دفاعي اقداماتو تر شا ليدل کېږي. بريدګر رياليزم بيا د دولتونو د ځواک اعظميت، د سيمهييز تسلط او د نظرياتي ارادې تحليل وړاندې کوي، چې د ايران انقلابي هويت او د اسرائيل د صفر تحمل ستراتيژي پکې څرګندېږي. کنسټرکټويزم د هويت او ارزښتي ژمنتياوو رول ته اشاره کوي، چې د دواړو دولتونو چلند ته ژور فکري بعد ورکوي.

په پای کې ويلی شو چې د ايران-اسرائيل شخړه يوازې د حقوقي اصولو يا ستراتيژيکو اړتياوو پر بنسټ نه ده؛ بلکې د ژورو نظرياتي، ارزښتي او هويتي تضاد محصول ده. د دې شخړې د حل لپاره بايد نه يوازې د نړيوالو حقوقو د تطبيق، د مخنيوي ستراتيژيو د محدوديت او د ډيپلوماټيکو هڅو پراختيا ته پام وشي؛ بلکې د دولتونو ترمنځ د باور جوړونې، د ارزښتي تفاهم او د سيمهييزو امنيتي چوکاټونو جوړونې ته هم پاملرنه وشي. دا به يوازې هغه مهال ممکن وي، چې نړيواله ټولنه د قانون، تفاهم او سياسي تدبير له لارې د تاوتريخوالي د کمښت، د شخړو د مديريت او د سولې د بنسټونو د پياوړتيا لپاره همغږې هڅې وکړي.

**سرچينې**

1. Ahmadzada, Rufat. *The Collapse of Iran's Proxy Strategy Exposes the Limits of Asymmetric Warfare.* August 14, 2025. https://url-shortener.me/3C4Z.

2. Akbarzadeh, Shahram. "Hezbollah's Defeat and Iran's Strategic Depth Doctrine." *Middle East Council on Global Affairs*, 2025: 1-11.

3. Akbarzadeh, Shahram. "Proxy Relations: Iran and Hezbollah." In *Routledge Handbook of International Relations in the Middle East*, by Shahram Akbarzadeh, 321-329. Routledge, 2019.

4. Alqahtani, Mohammed Salem, Rohaida Nordin, and Faridah Jalil. "The Use of Force by the States Under International Law." *International Journal of West Asian Studies* 13 (2021): 15-29.

5. Anand, Ruchi. "International Legal Exceptions to the Prohibition on the Use of Force." In *Self-Defense in International Relations*, by Ruchi Anand, 60–83. London: Palgrave Macmillan, 2009.

6. Arora, Mansi. *Inside Israel's killer truck that took out 'Iran's Oppenheimer' - How Mossad killed Iran's nuclear mastermind Mohsen Fakhrizadeh.* Jun 20, 2025. https://url-shortener.me/3C52.

7. Azizi, Hamidreza, and Julien Barnes-Dacey. "Beyond proxies: Iran’s deeper strategy in Syria and Lebanon." *European Council on Foreign Relations*, 2025.

8. Bahgat, Gawdat. "Iran, Israel and the United States the nuclear paradox." *The Journal of Social, Political, and Economic Studies* 32, no. 1 (2007): 3.

9. Bar, Shmuel. "Israeli strategic deterrence doctrine and practice." *Comparative Strategy* 39, no. 4 (2020): 321-353.

10. Barany, Zoltan. "The Gulf Monarchies and Israel: From Aversion to Pragmatism." *The Middle East Journal* winter, no. 4 (2020): 559-578.

11. Batinga, Jacob. "Reconciling the Global North-South Divide on the Use of Force: Economic Coercion and the Evolving Interpretation of Article 2 (4)." *Wisconsin International Law Journal* , 2024: 103-143.

12. Behravesh, Maysam. "Iran’s unconventional alliance network in the Middle East and beyond." *Middle East Institute* 4, no. 7 (2020): 1-26.

13. Bergman, Ronan. *Rise and Kill First: The Secret History of Israel's Targeted Assassinations.* UK: Hachette, 2018.

14. Blay, K N Samuel. "Territorial integrity and political independence." *The Max Planck Encyclopedia of Public International Law* IX (2012).

15. Bussolati, Nicolò. "The Rise of Non-State Actors in Cyberwarfare ." In *Cyber War: Law and Ethics for Virtual Conflicts*, by Jens David Ohlin, Kevin Govern and Clair Finkelstein, 102-126. Oxford University Press, 2015.

16. Chughtai, Alia. *Visualising 12 days of the Israel-Iran conflict.* June 26, 2025. https://url-shortener.me/3C59.

17. Davenport, Kelsey. *Balancing on the Nuclear Edge.* January 22, 2024. https://url-shortener.me/3C5D.

18. David, Josef. *Cracking the Code: Analyzing Iran’s Geostrategic Calculations.* August 1, 2023. https://url-shortener.me/3C5E.

19. Elgawari, Zaid Ali. "Preemptive Self-Defence in Public International Law: An Analysis through the Lens of International Court of Justice Jurisprudence." *Access to Justice in Eastern Europe*, 2025: 1-30.

20. Ellis, Harper. *How Israel's Missile Defense Systems Work: A Multi-Layered Shield.* June 20, 2025. https://url-shortener.me/3C5H.

21. Fedayee, Mohammad Javid. "Intervention or Invasion: Legal Perspectives on US and NATO in Afghanistan." *International Journal of Law Management and Humanities* 7, no. 4 (2024): 1796 - 1824.

22. Fedayee, Mohammad Javid. "The Islamic Emirate and the Multipolar World: Securing National Interests Among the Superpowers." *Strategic Studies Journal* Spring, no. 65 (2025): 13-66.

23. Fedrigo, Lorenzo. *Strategic Ambiguity: Israel's Nuclear Program and Begin Doctrine.* July 24, 2025. https://url-shortener.me/3C5L.

24. Focarelli, Carlo. "Chapter 15: Self-defence in cyberspace." In *Cover Research Handbook on International Law and Cyberspace*, by Nicholas Tsagourias and Russell Buchan, 317–344. Edward Elgar Publishing: Edward Elgar Publishing, 2021.

25. Furlan, Marta. "Israeli-Iranian relations: past friendship, current hostility." *Israel Affairs* 28, no. 2 (2022): 170–183.

26. Gans, Ben. "Operation Orchard." In *Special Operations and National Security*, by Ben Gans. Routledge, 2024.

27. Ghazal, Richard. *Maximum Pressure Is Necessary to Counter Iran's Proxy War.* May 20, 2025. https://url-shortener.me/3C5P.

28. Hendel, Yoaz. "Iran's Nukes and Israel's Dilemma." *Middle East Quarterly* 19, no. 1 (2012): 31-38.

29. Kearley, Timothy. "Raising the Caroline." *Wisconsin International Law Journal*, 1999: 325-346.

30. Kretzmer, David. "The Inherent Right to Self-Defence and Proportionality in Jus Ad Bellum." *European Journal of International Law* 24, no. 1 (2013): 235–282.

31. Madubuike-Ekwe, Joseph N. "Cyberattack and the Use of Force in International Law." *Beijing Law Review* 12, no. 2 (2021): 631-649.

32. Makousis, Dimitrios. *Israel vs Iran: A Strategic Reset in the Middle East.* July 28, 2025. https://strategyinternational.org/2025/07/28/publication190/.

33. *Military and Paramilitary Activities in and against Nicaragua (Nicaragua v. United States of America).* Merits; 70 (International Court of Justice, 1986).

34. Norlen, Tova, and Tamir Sinai. " "The Abraham Accords–Paradigm Shift or Realpolitik." *The George C. Marshall European Center for Security Studies* 64 (2020): 1-16.

35. Papastavridis, Efthymios. "Military and Paramilitary Activities in and against Nicaragua (Nicaragua v. United States of America), 1986." In *Latin America and the International Court of Justice*, by Paula Wojcikiewicz Almeida and Jean-Marc Sorel, 233-244. London: Routledge, 2016.

36. Pobjie, Erin. "The Meaning of Prohibited 'Use of Force' in International Law." In *The Meaning of Prohibited 'Use of Force' in International Law*, by Erin Pobjie, 190-228. Cambridge: Cambridge University Press, 2024.

37. Raban, Dan. *From friends to foes: how Israel and Iran were once close allies.* 4 23, 2024. https://www.ynetnews.com/business/article/sjmjor7zr.

38. Rakkas, Theodoros. *Limits of Israeli Deterrence: A Failing Strategy Against Hezbollah and Iran.* November 11, 2024. https://strategyinternational.org/2024/11/11/publication148/.

39. Rezaei, Farhad. "Iran and Israel: Taking on the "zionist enemy." In *Iran's Foreign Policy After the Nuclear Agreement: Politics of Normalizers and Traditionalists*, by Farhad Rezaei, 215-242. Palgrave Macmillan Cham, 2019.

40. Roomi, Farshad. "The Iran-Israel conflict: An ultra-ideological explanation." *Middle East Policy* 30, no. 2 (2023): 94-109.

41. Salameh, Mohammed Torki Bani, and Ahmad Ishakat. "Understanding Israel's Foreign Policy from the Perspective of Identity and Security." *Insight Turkey* 24, no. 2 (2022): 181-202.

42. Samad, Abdul, and Erum Naz. "Iran's Proxy Strategy: Militant Networks and Regional Influence in the Middle East." *International Journal of Humanities and Social Science* 12, no. 1 (2025): 1-8.

43. Saunokonoko, Mark. *How Stuxnet worm took out key Iranian nuclear facility in 2010.* April 12, 2021. https://shorturl.at/5IAGO.

44. Singh, Anand. *Once allies, now archrivals: The fallout between Iran and Israel.* June 16, 2025. https://url-shortener.me/3C5R.

45. Tams, Christian. "Article 2 (4)." In *The Charter of the United Nations: A Commentary (4th Edition)*, by Bruno Simma, Daniel-Erasmus Khan, Georg Nolte and Andreas Paulus, 289–366. Oxford Law Pro, 2024.

46. Tanvir, Rida, and Syed Qandil Abbas. "Evolving Balance of Power in the Middle East: Iran-Israel Standoff Shaping Iranian Foreign Policy." *Global Political Review* 9, no. 3 (2024): 77-84.

47. Triantama, Febry. "United Arab Emirates-Israel Rapprochement: A Rational Choice of Emiratis." *Journal of International Studies (JIS)* 19, no. 1 (2023): 169-199.

48. Tür, Özlem. "The Lebanese war of 2006: Reasons and consequences." *PERCEPTIONS: Journal of International Affairs* 12, no. 1 (2007): 109-122.

49. Wertman, Ori, and Christian Kaunert. *Israel: National Security and Securitization.* Springer Cham, 2023.

50. Whyte, Christopher. "Why Israel Fears a Nuclear Iran: Realism, Constructivism & Iran's Dual-national Identity." *Central European Journal of International & Security Studies* 5, no. 3 (2011): 141-162.

51. Wood, Michael. "International law and the use of force: what happens in practice?" *Indian Journal of International Law* 53 (2013): 345-367.